مورچل

اوربند دي ولي،
له دايمي سولې جلا وي؟!

څوارلسم کال، نهمه، پرلپسې ۱۴۵مه کنه،
صفر المظفر۱۴۴۲هـ ق سپتمبر۲۰۲۰م

- کابل نه ده، باره ده!
- مبارزه نزده ساله افغانها، فصل جدیدی در تاریخ آزادگی
- دمیزان د ۱۵مې وړاندې ستراتېژي!
- دازربایجان او ارمنستان نوې شخړه

مورِ درته ویلي وو چې

امریکایان به مو د کمونستانو په څېر ذلیل او رسوا پریږدي !!

مورچل

علمي، سياسي
او جهادي مياشتنی خپرونه

څوارلسم کال نهمه، پرلپسې ۱۴۵مه گڼه،
صفر المظفر ۱۴۴۲هـ ق سپتمبر ۲۰۲۰م

لړليک

گڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	کابل نه ده باړه ده !	۲
۳	مبارزه نژده ساله افغانها، فصل جدید درتاریخ آزادگی	۵
۴	موږدرته ویل چې:امریکایان به مو ذلیل رسوا پریږدي	۸
۵	کلمة حق أرید بها الباطل	۱۰
۶	دمیزان د ۱۵مې وړاندې ستراتیژي!	۱۳
۷	د افغانانو درد یواځې اسلامي نظام دوا کولای شي	۱۵
۸	دیني مدرسې ، فکري یرغل نه د پای تکی	۱۷
۹	د اذربایجان او ارمنستان نوې شخړه	۱۸
۱۰	افغانستان و انتخابات ۲۰۲۰ امریکا مهم چیست	۲۲
۱۱	د اسلامي حاکمیت هدف!	۲۵
۱۲	هغه سرښندونکی چې په میرانه بې اسلامي بیرغ لوړ وساته	۳۱
۱۳	شهید شیخ القرآن مولوي نجم الدین سالک	۳۲
۱۴	امریکا ولې افغانستان یرغل وکړ؟	۳۶
۱۵	جنګي جنایتونه...(سپتمبر)	۳۹
۱۶	د مورچل وړمې	۴۲
۱۷	د۲۰۲۰م کال د سپتمبر میاشتې جهادي خبرونه	۴۳

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی

ایوب صافی | حکمت
معین احمد | حافظ سعید
حسن زوی | موسی فرهاد

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

اوربند دې ولې،
له دايمي سولې جلا وي ؟!

د افغانستان اسلامي امارت لکه څنګه چې په جګړه کې لامثاله استقامت او اصولو ته ژمنتیا ښودلې، دغه شان یې په سیاست او دیپلوماسۍ کې هم خپل حریف لاندې کړی اوله تزلزل نه په پاک سیاست یې اوس نړۍ معترفه ده .

د دوحې تړون په تعقیب په بین الافغاني مذاکراتو کې د رهبري شورا په سطحه د لوړپوړو استازو ګډون یې سولې او خبرواترو ته په جنګ باندې ترجیح لابنه ثابتوي او هغه دریځ چې د جنګ له پیل نه مخکې یې اشغالګرو اودهغوی لارویانو ته وړاندې کړی و، له ۱۹ کاله جګړې وروسته ورسره بیا هم په هماغه دریځ تعامل کوي، نومعلومه شوه چې ۱۹ کاله جګړه اشغالګرو ته هیڅ هم نه لري،خو مونږ ویلی شوچې افغانانوته له زیانونو اوناورینونو سره سره د جګړې فاتحین افغانان دي اوکه همدا د جګړې پایلې دوه لسیزې مخکې سمې ارزول شوې وای اوزمونږ دخبرو اترو او مذاکراتو وړاندیز نه وای رد شوی، یولوری به هم له دغو زیانونو سره نه وای مخ شوی . د دوحې تړون د دغه تعامل لومړی پړاو او د بین الافغاني مذاکراتو روان بهیر یې دویم دی چې امید دی په بریا سره ترسره کېدل به یې په افغانستان کې ۴۲ کلن ناورین پای ته ورسوي او یو مستحکم اسلامي نظام به حاکم شي، ان شاءالله . اوس داچې دغه پړاو ولې ټکنی معلومیږي او له ځینو خنډونو سره مخ کیږي ؟

• نوکه له لومړي سره دمذاکراتو بهیر په دقت وڅارل شي له افتتاحي غونډې نیولې بیا تر نن ورځې لیدل کیږي چې څه جهتونه او اشـــخاص په لوی لاس دغه بهیر له خنډ اوځنډ سره مخ کول غواړي، د قضـــیې دحل اصلي ټکو ته د ورتلو په ځای په نامعقولو لارو چارو ټینګار کوي، کله دمذاکراتي ټیم په امورو کې په مداخله مذاکراتو ته داســاس په ټاکلو، کله پاروونکې څرګندونې کوي، کله دوســـلو وېش ته لاس اچوي او دجنګ لمنه پراخوي، کله داسلافو توهین اوبالاخره په دغسې حساسو شېبو کې داسې هڅې کول چې دسولې په روانه پروسه دې خامخا منفي اغېز ولري او په یوډول یې له ســتونزو سره مخ کوي، د دغو جهتونو یو نه ښښونکی جرم دی.

تر ټولو نامعقوله بیا داچې تر هرڅه له مخه دې اوږد مهاله اوربند وشـــي او مخکې له دې چې کومې څرګندې نتیجې ته دې رسیدلي یو هغه څه دې له منځه یوسو چې داسلام حاکمیت اواشغال دپای ته رسېدو لپاره یې پیل شوی، خو نه دې اسلام حاکم وي اونه دې داشغال خاتمه راغلې وي او جنګ دې ودرول شي ؟!!

دمذاکراتو پیل چې په هیواد کې د دایمي ســولې دراتلو په نیت پیل شـــوي په موقتي اوربند ټکني کول یې کوم معقولیت دی ؟! بیا په داسې حال کې چې دمذاکراتو دنســـــبي پرمختګ ســـــره یې اوربند هم یوه برخه وي ؟ دمذاکراتو په جریان کې د اړو په رامخته کولو کې دا یوه داســې اړه ده چې په ظاهره ډېره خوږه اوپه باطن کې د ناوړه غرض لپاره یادیږي". کلمة حق أُرید بها الباطل ."

سړی نه پوهیږي چې له دایمي سولې داوربند د جلاکولو هڅې ولې کیږي ؟ که یو وار روان مذکرات په افغانســتان کې د دایمي سولې درامنځته کولو په نیت پیل شوي وي، نو ولې دې پرمختګ پکې ونه شي او اوربند دې له دغې دایمي سولې جلا شي ؟!!

کابل نه ده، باړه ده

زخمي افغان

دې ورځو کې چې سوشل میډیا ته سر وربښکاره کړې، نو همدا خبره په مخه درځي چې د افغانستان له پلازمینې کابل څخه (باړه) جوړه شوې باړه اصلا د پښتونخوا د خیبر ایجنسۍ هغې برخې ته ویل کیږي چې یو وخت د غیر قانوني کارونو او جرائمو مرکز ګڼل کیده. د ا چې اوس د افغانستان په پلازمینه کابل کې هم امنیتي حالت همدومره خراب شوی، هره ورځ د غلا، شوکو، قتلونو او اختطافونو راپور ورکول کیږي نو ځکه د دې ښار امنیتي وضعیت له باړې سره پرتله کیږي.

د پلازمینې کابل امنیتي حالت له دې معلومولای شئ چې په دې وروستیو کې د کابل ښار او سیدونکو د یوه فیسبوکي کمپاین له لارې له غلو او داړه مارانو سره د سازش او معاملې هڅه وکړه. وروسته له دې چې د کابل ښار په امن ترینو سیمو کې خلک په مبایل پورې ووژل شول او خلک د پولیسو له کردار څخه مایوسه شول نو د یوه فیسبوکي کمپاین په لړ کې ښاریانو له غلو وغوښتل چې (مالونه مو واخلئ خو لطفا ژوند رانه مه اخلئ)

همدا اوس که رسنۍ وګورئ هره ورځ په کابل ښار کې د غلا، اختطاف، مسلحانه سرقت او قتل له پیښو خبر ورکوي. همدا اوس چې مقاله لیکم دا خبر مې په مخکې دی چې د کابل ښار په لوړې ناحیه کې د رامین په نوم هغه ځوان د غلو لخوا وژل شوی چې څو ورځې وړاندې د کانکور په امتحان کې په خورا ښو نمبرو د کابل پوهنتون د انجنیرۍ پوهنځي ته بریالی شوی و. بل خبر وایي د جمهوریت روغتون کارکوونکی ډاکټر محب الله غلو اختطاف کړی دی. بل خبر وایي طالبانو په شکردره او د میدان وردګو نرخ کې هغه اختطافګر نیولي چې له کابله یې د تجارانو زامن یو ماشوم او یو زلمکی راتښتولي وو.

د شمشاد ټیلویزیون یو مستند راپور بیا له بله رازه پرده پورته کوي. راپور وایي چې د کابل پولیس هم د غلو ملګري دي. په ویډیو کې ښکاري چې د کابل ښار د احمد شاه بابا مینې په سیمه کې عامو خلکو دوه تنه غله نیولي دي. خو وروسته پولیس راځي

او خلکو ته وایي چې غله مورې ته وسپارئ چې توقیف خانې ته یې ورسوو. خلک غله پولیسو ته سپاري خو د شمشاد خبریال د کامرې په واسطه د پولیسو څار کوي چې آیا واقعا غله توقیف خانې ته وړي او کنه؟ له لږ مزله وروسته ښکاري چې پولیس رینجر موټر دروي او له سرسري تلاشي وروسته غل په عام بازار کې خوشي کوي. له دې څخه معلومه شوه چې د کابل پولیس د خلکو ساتونکي نه بلکې د دارې مارانو ملګري دي او یوازې هغه وخت غبرګون ښیي چې غله ونیول شي او دوی یې د خلاصون هڅه کوي.

یوه اونۍ وړاندې هغې پیښې هم د کابل ښاریانو ډیره غوسه راوپاروله چې د دې ښار په یوه سیمه کې په رڼا ورځ څو تنو غلو د پوهنتون د ښځینه زده کوونکو بس ودراوه. د ښځو تلاشي یې پیل کړه، له ټولو ښځو یې مبایل، پیسې او زیورات واخیستل او لاړل. دا ډول پیښه که د نړۍ په کومه بله سیمه کې شوې وای شاید امنیتي چارواکو یې د ملامتیا له املې ځانوژنه کړې وای. مګر په کابل ښار کې دغه وړې بوږنوونکې حادثه هم د ورځنۍ معمول په حیث تېره او هیره شوه.

د وروستیو ناامنیو له املې د کابل ښاریان تر پوزې راغلي او په رسنیزو څرګندونو کې د طالبانو د وخت د امنیت ارمان کوي. د کابل ښار په ځینو اطرافي سیمو کې چې مجاهدین فعالیت لري د غلاوو او جرمونو پیښې هم په کې کمې شوي دي.

په داسې حال کې چې د جرمونو، لوټمارې او قتلونو له املې د کابلیانو فریاد تر اسمانه رسیږي د ارګ واکمنو ځانونه ناګاره اچولي او داسې چلند کوي لکه په کابل کې چې خیر او خیرت وي. د ارګ د واکمنو یوازینی کار د نمایشي مجالسو جوړول، بې محتوا لاپې او سیاسي ریاکاري ده. چې هره ورځ په ولس کې د دوی په وړاندې د نفرت کچه لوړوي او پردیتوب یې خلکو ته څرګندیږي.

مبارزه نزده ساله افغانها، فصل جدیدی در تاریخ آزادگی

حنیفی سمنگانی

با اینکه افغان‌ها تاریخ روشن و درخشان در برابر استعمارگران داشته‌اند، اما پس از اشغال کنونی کشور، باور عمومی این بود که افغان‌ها دیگر هرگز به هدف مبارزه به پا ایستاده نخواهند شد و حتی خواب و خیال مقاومت را هم نخواهند دید. این باور عمومی شاید چندان بی‌جا هم نبود. زیرا این بار تقریبا همه قدرت‌های استعمارگر غرب زیر چتر سازمان ناتو، تحت پرچم آیساف و بر مبنای قطعنامه ۱۳۸۶ شورای امنیت سازمان ملل متحد و با شعار فریبنده «عملیات بلندمدت آزادی»، یک‌دست شده بر افغانستان هجوم آورده بودند و از داخل افغانستان حتی از میان مجاهدین و کمونیست‌های پیشین هم از حمایت خاصی برخوردار بودند.

همچنان دست نیافتن به آرمان‌های جهاد بر ضد شوروی وسپس جنگ‌های خانمان‌سوز و ویران‌گر داخلی دهه نود میلادی و پس ازان فرصت ندادن جامعه جهانی به دولت امارت اسلامی، واقعیت‌های بود که برخی از افغان‌ها را خسته و درمانده و برخی دیگر را در مورد آینده‌ء آزاد و اسلامی افغانستان نا امید ساخته بود. بانگ بلند رسانه‌های تازه و کهنه استعماری نیز همین بود که کشتی افغانستان با پیمودن مراحل دشوارگذار و با پشت‌سر گذاشتن امواج خروشان طوفان‌ها، بالاخره به ساحل نجات خود که

نظـام دموکراتیـک اسـت رسیده، و گویا آینده تابـان افغانســـتان تنهـــا بـــا دموکراســی گــره خــورده است.

پایـان یـافتن مرحلـه آغـازین جنـگ در ظـرف تنهـا یـک مـاه، چیـزی دیگــری بــود کــه بــرای افغان‌ها بـی پیشـینه بـود. بلی، نیروهای اشغال‌گر بـه رهبری امریکا و بـا حمایـت همه‌جانبـــه کشـــورهای همســایه و منطقــه و بــا کـــاربرد مـــدرن‌ترین و خطرنـاک‌ترین تجهیـزات نظامی، کـه افغان‌هـا حتـی بـا نام‌هـای آن هـم درسـت بلـد نبودنـد و موثریـت آن نــه تنهــا افغان‌هــا بلکــه چشـم جامعـه جهـانی را خیـره سـاخته بـود و در حقیقت نوعیت جنگ‌ها را تغییر داد، توانستند خـود را پیـروز جنـگ نشـان بدهند. اگرچه آمـار تلفـات طالبـــان دران شـــب و روزهـــای اول تهـــاجم وحشیانه بسیار بلند نبود، اما بزرگـان طالبـان مناسـب دانسـتند کـه بـرای جلـوگیری از تلفـات سنگین مردم ملکی باید عقب‌نشینی را تـرجیح بدهنـد و سـپس بـا حملات چریکـی دوبـاره بـه مبـارزه و مقاومـت بپردازنـد. امـا واقعیـت اینست که از قدرت‌منـدی تیکنـالوژی پیش‌رفتـه امریکـا و نـاتو همـه انگشـت بـه دنـدان شـده بودنـد و ایسـتادگی در برابـر آن نـادانی پنداشته می‌شد.

اما دیری نگذشته بـود کـه افغان‌هـا بـه رهـبری امـارت اسـلامی دوبـاره بـه مبـارزه و مقاومـت آغـاز کردنـد و بـدون هیچ‌گونـه حمایـه خارجی، و با تن دادن به تکالیف و قربانی‌های بی‌شمار، کـه در ایـن مقاله کوتاه نمی‌توان از آن حتی یاد اجمالی کرد، اینک بار دیگـر بـه آستانه استقلال و حاکمیت نظام اسلامی نزدیـک شـده انـد و چـراغ خموش‌شده امید شان دوباره به فروغ درآمده است. امروز باز هـم در قریـه قریـه افغانسـتان سروصـدا اسـت کـه افغانسـتانِ مسـتقل و اسلامی، تنها راه بیرون‌رفت کشور از چندپارچگی، ملوک الطوائفی، هرج‌ومرج، ناامنی و سائر مفاسـد مـالی و اخلاقـی اسـت. بلـی، ایـن مبارزه خستگی‌ناپذیر، مشروع و منطقی امارت اسلامی بـا فـداکاری و پشتیبانی همه‌جانبه مسلمان‌های غیور افغانسـتان بـود کـه منـتج به پیمان پرافتخار پایان اشغال در دوحه شد.

امـروز در حقیقـت اشـغال‌گران خـارجی رسـما پذیرفته‌انـد کـه تمـامی فرمول‌هـای آن‌هـا به‌خصـوص کنـترول افغانسـتان بـا حضـور نظـامی دران کشـور بیگانه‌سـتیز و یـا از طریـق اداره دست‌نشـانده، ناکام مانده و باید راه بیرون‌رفتِ «آبرومندانه» از معضل افغانسـتان را از دست ندهنـد. امـا ایـن برخـی از مـزدوران اسـتعمار انـد کـه هنـوز گمان دارند می‌توانند بـا سرنوشـت افغانسـتان بـازی کننـد و بـا ایـن بـازی‌گری، چنـد روزی دیگـر بـر مسـند قـدرت بماننـد. امـا شـاید فراموش کرده‌اند که ایشان اساس و پشتیبانی مردمی در بـین ملـت ندارنـد و تنهـا بـا حمایـت مـالی یـا سیاسـی برخـی حلقـات مغـرض نمی‌توانند به عمر نظام فاسد، ناکاره و پوشالی شان بیافزایند.

اما در باب مبارزه کنونی افغان‌ها، آنچه مهم است که باید ذکر شود، اینست که به باور بعضی‌ها افغان‌ها با نداشتن امکانات لازم جنگی، چندان تجربه جنگ‌های طولانی و صبر آزما را هم ندارند و شاید با دراز شدن مدت اشغال، از زور مقاومت شان به‌تدریج کاسته شود و بالاخره افغان‌ها هم همانند بعضی ملت‌های دیگر در قاره آسیا، اشغال کنونی را به‌حیث یک حقیقت روز بپذیرند و به آن تن بدهند. اما حقیقت اینست که مبارزه افغان‌ها روز به روز داغ‌تر شد و اینک با ۱۹ ساله شدن مبارزه، افغان‌ها ثابت ساختند که تا نسل‌ها می‌توانند از آزادگی و شناخت اسلامی و ملی شان دفاع نمایند.

بلی، افغان‌های تهی‌دست بهای سنگین اشغال دو دهه را پرداخته اند، اما هیچ‌گاهی در باره سیر جهادی و آرمان‌های بلند خود، متردد نشده‌اند. سالاران فداکار این قافلهء خداپرست به لیلای شهادت پیوستند و باغ خزان‌زده امید ملت را با قطره‌های خون پاک شان آبیاری نمودند. آن‌ها با راست نمودن عهد و پیمان شان، مورال تازه‌ای به سربازان سر به‌کف خود بخشیدند.

افغان‌ها مطمئن‌اند و می‌بالند که نسل نو ما افتخارانه وارد صف مبارزه شده‌اند و مبارزه پدران و نیاکان شان را مردانه‌وار به پیش می‌برند. بلی، تهاجم فرهنگی بی‌گانگان و تحولات زمان نتوانست مسیر فرزندان افغان‌های اصیل را عوض کند و از جاده حق انصراف دهد.

امتیاز دیگری مبارزه کنونی از مبارزه در برابر شوروی‌ها این بود که آن مبارزه، اصلا جنگ بین دو قطب جهان و یا هم بلاک‌های شرق و غرب پنداشته می‌شد و افغان‌ها در برابر شوروی‌ها یقینا از حمایت همه‌جانبه کشورهای غربی، عربی و همسایه‌ها برخوردار بودند. اما مبارزه کنونی، مقاومت در برابر تک‌قطب جهان بود، که هیچ قدرتی در شرق‌وغرب جرات انکار در برابر آن را نداشت و چنانکه جورج بوش گفته بود «یا با ما یا در برابر ما» ؛ همه در صف امریکا ایستاده شده بودند و به این شعار مغرورانه جورج بوش باور کردند که طالبان درین دنیای کوچک از ما کجا پنهان شده می توانند.

اما پس از هجده سال مبارزه، افغان‌ها به رهبری طالبان در حالی وارد مذاکرات با امریکا شدند و بر توافق‌نامه دوحه امضا کردند، که هیچ شبه و ابهامی در مورد نیرومندی صف جهادی آن‌ها باقی نمانده بود و پشتیبانی بخش اعظم ملت را نیز با خود داشت.

آزادگی یقینا مدیون احسان افغان‌هاست که فصل نوینی را در تاریخ آن بیافزودند و با کمال جرات‌مندی، حوصله‌مندی و باورمندی به اقوام و ملت‌های محکوم جهان نشان دادند که در برابر جنگ‌های مدرن قرن ۲۱ نیز می‌توان صف مقاومت را تا ۱۹ سال متحد نگه‌داشت و همزمان با یورش‌های گوناگون نظامی، سیاسی، اقتصادی و فرهنگی قدرت‌های بزرگ جهان مقابله کرد و آن را شکست داد.

به امید هر چه زودتر افغانستانِ مستقل، مستحکم و اسلامی.

مورچې درته ویلي وو چې

امریکایان به مود کمونستانو په څېر

ذلیل او رسوا پریږدي !!

■ خبیر احمد م

د کابل اداري د مشرانو جرګې مشر " مسلمیار " د جرګې د غړو د ګټو پوښتنو او اندېښنو په ځواب کې چې " ټول د امریکایي پوځیانو په وتلو مبني وي " دېته مجبور شو ؛ چې د مفکر د شړیدلي رژیم د زړه خبره په خوله راوړي .

مسلمیار له زیاتو اهونو او لویدلي غړ سره وویل چې متاسفانه جریان همداسې دی لکه تاسي محترمو سناتورانو چې ورته توضیحات ورکړل . امریکایانو له مونږ سره په نه تفاهم او عدم هماهنګۍ خپلې کډې ټرلي او په ډېرې تېزۍ سره په وتلو دي .

مسلمیار پخپلو خبرو کې زیاته کړه چې د اندېښنې او حیرت ځای دا دی چې امریکایان هېڅ شی ددوي دولت ته په اختیار کې نه ورکوي . وسلې ، چورلکې ، ټانګونه او ټول تجهیزات له یوې مخې باروي او پاکستان ته یې اړوي . او ددې سربېره د باګرام دلویې اډې په شمول یې ټول هغه تاسیسات او مرکزونه چې جوړ کړي وو او اوس یې تخلیه کوي ، هغه هم له یوې مخې نړوي او له منځه یې وړي .

مسلمیار دا خبره هم ورسره غبرګه کړه چې امریکایان زمونږ امنیتي او مسؤلي اداري د خپل خروج په باب په جریان کې نه اچوي او د نوموړي په خبره له ولسمشر نیولې د امنیت د شورا تر نورو لوړپوړو مسئولینو پورې د امریکایانو له ورستیو اقداماتو خبر نه دي .

د جرګې غړو ټولو په دې خبره تاسف کاوه چې امریکایانو ناځواني ورسره کړې او په نیمه لار کې یې پریښودل ، ددوي په اند روسان تر امریکایانو څه نا څه وفادار وو ؛ کمونیستانو ته یې پرېمانه وسلې او پوځي تجهیزات

پریښودل او د هغې سربېره یې تر ډېرو کلونو حمایه کول !!

کوم زړه چاودون او دغم تننی چې مسلمیار او د سنا مجلس غړو وړمه ورځ واوروه ، حقیقت کې همداسې ده ؛ امریکایان په ډیرې چټکتیا سره لګیا دي خپله لمن له افغانستان څخه را ټولوي ، عمومي ذهنیت خو داسې وو چې امریکایان به د بګرام ستره اډه دومره زر او په تلوار خوشې او تخلیه نکړي ؛ خو مور یې وینو او مسلمیار هم له دې خبرې سره اتفاق کوي چې د بګرام نیمایی اډه امریکایانو نړولې خپل تجهیزات یې ترېنه وېستلي او هره شپه خپلو هغو وسایلو ته چې د وړلو نه دي لویې لویې چاودنې ورکوي او له منځه یې وړي .

د الله تعالی د ستر قدرت نښو نښانو ته ګورئ! مونږ ۱۹ کاله وړاندې د امریکا دغو تالې څټو غلامانو او مزدورانو ته ویلي وو ؛ چې امریکایان به خامخا د الله تعالی په مدد تاریخي ماتې خوري ، تاسي به ورته په غټو غټو سترګو ګورئ ، هغوي به تښتي او لکه سرټیټي کمونیستان چې روسانو دلته خوار او ذلیل پرېښودل ، تاسې به له کمونیستانو هم زیات مختوري او بې اسري پرېږدي .

مسلمیار ته دې وویل شي چې د امریکایي وسلو ، ټانګونو او تجهیزاتو دا غم پرېږدئ ، چې ولې یې دلته پرېښودل او یا یې د چاودنو او زهریله موادو په توسط ویلې او خاورې ایرې کړل ؛ د ځان غمه مو وکړئ ؛ همسې نه چې په اخره ورځ امریکایان دا خپل ټول غټ غټ غلامان راټول کړي او د امریکایي ناکاره پرزو ، اوسپنو او لرګیو په توګه مو خچ پچ او د بمونو کومه بله مور یا پلار دربانديې استعمال کړي او نړیوالو ته دا وروښایي چې امریکایان سرټیټي له افغانستانه لاړل او خپل ۱۹ کلن جاسوسان او مزدوران یې خپل ملت ته د حساب او منګولو پرځای پخپل لاس ووژل او له یوې مخې یې تر خاورو لاندې کړل .

■ ■ ■

کلمة حق أريد بها الباطل

حسن زوی

په جنګ صفین کې چې دشامي لښکر له لورې دجنګ بندی غوښتنه رامخې ته شوه او سیدنا علي اوسیدنا معاویة رضی الله تعالی عنهما د ابو موسی اشعري او عمروبن العاص رضی الله تعالی عنهما په مشرۍ کې د دوه هیئتونو په منځګړیتوب رضا او جنګ پای ته ورسېدلو نو دښو تمیم دقبیلې یوسردار عروه بن اویه علی رضی الله تعالی عنه ته وویل: تا دانسانانو دریمګړیتوب او پربکړې ته ولې غاړه کېښوده؟ مور د الله تعالی نه پرته دهیڅا پربکړې ته نه یو نیار؛ په لښکر کې دده دفکر ملګري زیات شول او چې کله لښکر کوفې ته رانېږدې شو نو تري ۱۲زره تنان جدا او په حروراء مقام کې يې خیمې ووهلې؛ دلښکر نه جداشوو دې خوارجو به ویل: ان الحکم الا لله ؛ مقصد به يې دا وچې نعوذبالله من ذلک علي رضی الله تعالی عنه د الله تعالی دکتاب په مقابل کې دانسانانو پربکړې ته په غاړه ایښودو کافرشویدی.

یوه ورځ چې سیدنا علي رضی الله تعالی عنه دجمعې په ورځ په جومات کې بیان کولو نو دده دذهن د مشوش کولو لپاره یو خارجي دجومات دیوګوډ نه د ان الحکم الا لله ناره پورته کړه ؛سیدنا علي رضی الله تعالی عنه وفرمایل: کلمة حق ارید بها الباطل.

یانې دا چې دا الفاظ دقرآنکریم جز دی نو طبعاً حق الفاظ دي خو اراده پرې دباطل ده یانې دعلي رضی الله تعالی عنه تکفیر.

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې پدې تازه ورځو کې دبین الافغاني مذاکراتو په اړه دکابل ګوډاګي اداري مشر ویلي دي چې طالبان دې مورږسره دقرآن اوسنت په رڼا کې خبرې پیل کړي نه د دوحې دتړون په اساس.

داشرف غني دا خبره هم بېخي دکلمة حق ارید بها الباطل مصداق دی.

دکابل دلاسپوڅې اداري دګوډاګي مشرانو اصلیت ټولو افغانانو ته معلوم دی، هرڅوک پدې پوهېږي چې خاورې ته خدمت، خپل هېواد سره مینه، هېواد والو ته ګټه رسول،دین سره وفا،د ديني شعایرو قدر، داسلامي نظام

حاکمیت، اصولو ته ژمنتیا،په ملت ترحم، دهېواد د ازادۍ هڅې او د اشغال دپای ته رسېدو هیلې دا ټولې داسې خبرې دي چې دکابل اداري دحاکمانو په خیال او خاطر کې هم نه راځي بلکې ددې خبرو او دکابل اداري مشرانوترمنځ هیڅ مناسبت نشته؛هر څوک پدې پوهېږي چې دخپلو مادي ګټو او خپلو چوکیو پرته دوئ هیڅ شي ته وفادار ندي؛ تردې چې دا اصلیت یې اوس بهرنو بادارانو ته هم معلوم شوی نوځکه هغوئ ته هم سخت بې اعتباره شوي او تري ناهیلي دي.

نو که کومه داسې خبره دکوم یو مشر له خولې راووځي هیڅوک یې د التفات وړ نه ګڼي او نه یې په تقریر او تحریر کې څوک ردول چندان ضروري بولي.

دکابل مشرانو اوسنی خبره هم همداسې دټولو په اند مردوده خبره ده، هیڅ ددې وړنده چې په رد یې څوک خپل وخت صرف او ورته دلایل راو ړي دهېواد هرمسلمان بچی به دحال او قال په ژبه وایي:ده ته ګوره! دا لا په کومه خوله د قرآن اوسنت نوم اخلي؟!

نو داشرف غني دا خبرې دټول ملت په اند مردودې دي او هیڅ څوک به یې دتوجو وړ نه بولي خوچې په مطبوعاتو کې دکرایې دځینوټټوانو له لورې ددې خبرو ستاینې کېږي او دا پر اسلامي امارت سیاسي ګوزار بولي نو مې خکه پدې اړه یو څه لیکل اړین وبلل.

دجلي یا خفي وحیې (قرآن اوسنت) له لارې چې دالله تعالی له لورې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته څه ورکړل شوي او مور ته په صحیحو سندونو رارسېدلي دي ددې ټولو تصدیق ، دزړه نه منل او ورته منقاد کېدل ایمان دی خو پدې شرط چې نواقض دایمان نه وي رامخې ته شوي.

په داسې تن چې په دنیوي ژوند کې دمسلمانانو احکام جاري کېږي نو دزړه دتصدیق تر څنګ به په ژبه هم اقرار کوي. او ایمان په نېکو اعمالو دکمال درجوته رسېږي .

اسلام دعمل او صداقت دین دی؛ که تش په ژبه مسلماني وي او په زړه کې تصدیق نه وي اسلام یې نفاق ګڼي او بې عمله اقرار کونکي او تصدیق کونکي خلک که څه هم په ګناه داسلام او ایمان نه نه بې برخې کېږي خوګناه ته یې بد کتل کېږي او په اصولي لحاظ په دنیا او آخرت کې دسزا مستحق ګرځي.

نو په قرآن او سنت په رنا کې دمذاکراتو او پرېکړو خبره خو ډېره ښه خبره ده خو ارمان چې دنفاق نه خالي اودا خبره د یوشعار په توګه نه رامخې ته کېدای؛ ربنتیا هم په قرآن او سنتو ایمان او لاربنوونوته یې ژمنتیا وای.

ربنتیا دا ده چې دا یواځې اویواځې د امریکاسره د اسلامي امارت د تاریخي ټرون او ددې ټرون په نتیجه کې دعظیمو لاسته راوړنو د بې اهمیته ښوولو هڅې دي او بس. دا شعارددې لپاره رامخې ته کړای شو چې که دبین الافغاني مذاکراتو په نتیجه کې کوم لوی بدلون او پرمختګ رامنځته کېږي چې نړۍ، افغان ولس او راتلونکی تاریخ یې ددې تاریخي ټرون او ددې ټرون دهغو مادو نتیجه ونه ګڼي کومې چې په ۱۹کلن جهاد کې پرغلیم د لویو ګوزارونو او دمذاکراتو پر مېز دخورا اوږدو هڅو، دوامداره استقامت، دښه تدبیر او ښه زیرکتیا په نتیجه کې پر امریکایانو ومنل شوې.

دکابل اداري مکار مشران نه غواړي چې راتلونکي پرمختګونه د اسلامي امارت په مشرۍ او ابتکار دافغان ملت دې عظیمې لاسته راوړنې ته منسوب او ولس اسلامي امارت داشغال او داشغال سره دټرلو بدبختیو نه نجات ورکونکی وګڼي.

دمذهبي پوهانو په جامه کې چې کوم مکار خلک اشرف غنـي تـه دداسـې غولونکـو شعاري خبرو مشورې ورکوي هغـــوئ دې نـــران شي د اسلامي امارت او امريکا ترمنځ رامنځتـه شـوي دې تـاريخي تـړون کـې دې داسـې کومـه خبره په ګوتـه کړي چې هغه دقرآن او سنت خلاف وي.

هاغه خو هم يو تـړون و چې دجعلي انتخاباتو په نتيجه کې واک ته د رسېدو سره سم پـه ډېـره عجلـه اشرف غنـي او ډلې يې دامريکا سره امضا کړ.

دســتراتېژيک امنيتــي تـړون پـه نـوم دشرم نـه ډک تړون چې ټول مسلمان ولس امريکا تـه د دايمـي اشغال، د ولس د دايمي غلام ګرځولـو او وحشي بهرنو فوځيانو تـه دهـر ډول سزا نه دقانوني مصئونيت قباله وبلله آيا ددې وړ دی چې دوئ يـې ولـس تـه د رايـادولو جرأت وکړي يـا يـې خپلـه يـوه سلنه لاسته راوړنه وګڼي؟

دا خـو داسـې تـاريخي جـرم و چـې دامريکايـانو اول لاسپوڅي حامد کرځي تړې هم ځان ساتلو او نه يې غوښتل چې په تاريخ کې يو بل توراب هم ورزيات شي.

دا د شرم نه ډک تړون چې امضا کېدلو نو دکابل اداري مشرانو پـه خيـال و خاطر کې هم نه راتلله چې دا تړون دقرآن او سنت سره برابر دی او که نه؟

اوس چې اشرف غنـي او داشرف غنـي دفکـر ټول مشران دامريکـا نـه غواړي چې خپل فوځيان دې له امريکا نه نه باسي نو د اشغالګر قابض دښمن نه چې د ازادۍ اخستلو لپاره په لسګونو زره ځوانان خپل سرونه قربانوي ايا پـه داسې وخت کې يو تن چې خان دهېواد واکمن بو لي ورته ښـايې چـې دقابض فوج نه د قبضې ددوام غوښتنه وکړي؟

کلـه اشرف غنـي او ډلـې يـې لـه خـان سره دا فکـر کړی چـې مـوږ چـې دامريکا نه کومه غوښتنه کوو آيا دا د قرآن او سنت سره برابره خبره ده؟

آيا دهېواد سورکافر مشر به داسې هېواد او ملت پلورنې ته ته تيارشي؟

داهره ورځ او شپه چې دبهرنو ترځنګ دغني دعسکرو لـه لـورې پرملکـي افغانانو حملې روانې دي او پکې بې ګناه ګڼ انسانان وژل کېږي کلـه اشرف غني او ډلې يې پدې اړه فکر کړی چې مور چې څه کـوو آيادقرآن او سـنت پـه رڼا کې دا مور سم کار کوو؟ آيا پدې اړه زمور څه مسئوليت نشته؟

داشغال لـه اولـې ورځـې تـر تنـه داشـغالګرو ملګرتيـا؛ اشـغال تـه قـانوني حيثيت ورکول؛ داشغالګرو په زور ځان واک تـه رسـول؛ داشـغالګرو دګټولپـاره دخپل هېواد او ملت ګټې تړپښـو لانـدې کـول او دواشـنګټن نـه ددفـاع لپـاره افغانان قربانول آيا دقرآن او سنت سره برابر دي؟

دکابل اداري کوم شی دقرآن او سنت سره برابر دی؟

اشرف غني او ډله يې بايد پدې پوه شي چې نور يې په غولونکو شعارونو ملت نـه غـولېږي او نـه دخپلـو مـادي ګټـو دسـاتنې پـه موخـه د ملت غوښتنه ردولای شي.

د اشغال پای ته رسېدل، په هېواد کې دجنګ بندېدل او سرتاسري سوله به ان شاءالله خامخا راځي نور يې په يوه پلمه هم دوئ مخـه نـه شي نيولای.

دمیزان د ۱۵مې وړاندې ستراتیژي!

ارمان

هغوی (مسلمانو عربي خوانانو) دښاري الوتنو زده کړې بشپړې کړې وې، دښاري الوتنو زده کړو د تکمیل وروسته په دوه الوتکو کې سپاره شول، او د تښتولو وروسته یې هغه د دوه لوړو مانیو سره وجنګولې، هغه مانۍ کیناستې او ترپایه ونړیدې، چې له املـه یې په زرګونو کسان هلته مړه شول.

دغه دواړه الوتکې دامریکا وې، او هغو خو انانو زده کړې هم په امریکا کې کړې وې، امریکا هغه خوانان داسامه بن لادن ملګري یاد کړل، چې ګواکې هغه ورته پیسې ورکړې وې ، اسامه بن لادن د غه مهال په افغانستان کې و، نو امریکا له افغانستانه وغوښتل چې اسامه بن لادن دي دوی ته ور و سپاري، خو افغانستان یې په ورسپارلو کې تأمل وکړ او په یاده پیښه کې دهغه دلاس لرلو په اړه یې د امریکا خخه د ثبوت وړاندې کولو غوښتنه وکړه، او هم یې په اړه د یو نړیوال قضائي ټیم یا کمیسیون جوړولو وړاندیز وکړ، امریکا په ډیرغرور او کبر سره هغه وړاندیز رد کړ او په افغانستان یې دیرغل کولو تاریخي ټیروتنه او اشتباه وکړه.

که موږ د لږ خند لپاره دا او منو،چې په دې کار کې داسامه بن لادن لاس و، نو پوښتنه داده چې د کومو خوانانو چې دستمبر پیښه کې لاس وو، ایا د هغوی په اړه امریکا علم نه درلود؟ ایا د نیویارک په دوه برجونو ناخا په حمله وشوه؟

د دې سناریو دا ده چې داسمه ده چې یاده پیښه د ۲۰۰۱ زکال د ستمبرپه ۱۱ مه و شوه، خوځیني شواهد ښیي چې امریکا له وړاندې خخه په افغانستان دیرغـل کولـو بد هود کړی و، د یو محقـق فاضـل وینـا ده د۲۰۰۰ز کـال دفبروري په میاشت کې د اسـلام اباد نړیـوال اسـلامي پوهنتون مربوط " شریعه اکاډمی" و غوښتل چې ځینـي کتابونه چاپ کړي، د معمول سره سم یې هغـو لپـاره داو طلبې و کړه، کومې چاپخونې سره یې چې د چـاپ خـبره طی کړه، د هغې لخوابیا، بیا دا باور ورکړای شـو چـې د کوم خند پرته به ورته کتابونـه چـاپوي ، لـیکن بیـا پـه تاکلي وخت هغه کتابونه چاپ نشول.

دا د(۲۰۰۱ زکـال) د سـتمبر نـه خـه کـم دوه کالـه وړاندې واقعه ده، دکتابونو چـاپ کـې دزیـات خند پـه راتلو سره د شریعه اکاډ می مشر ور پسې چاپ خونې ته ورغی،هلته یـې دچـاپ خـونې لـه خبنـتن سره خـبرې وکړې او له هغه خخه یې د خند دلامـل وپوښـتل چـې تاسو خو به د یر ژر، ژر کتابونه چاپول اوس مـو ولـې پـر وخت چاپ نکړل؟هغه ووېل: ماته ډیر زیات کار راغلـی دی او دهغه دچاپ ذمه ما اخیستی ده، نـو لـه تاسـو نـه ښښنه غـواړم هیلـه ده عـذرمې اومنئ او تاسـو کـه هـر خومره تاوان غواړئ ، هغومره له ما واخلئ،لیکن ستاسـو کارکولو ته زه وزګار نه یم، د شریعه اکاډمی مشر وویـل: دا سې کوم کار تاته راغلی دی چې دهغه پـه سـبب تـه وزګـار نـه یې؟هغـه سـاده سـړی و ویـې ویـل: د فـلاني هیواد...(هغه په ښکاره دامریکا مخـالف هیـواد دی او په رسنیوکې یې چارواکي په امریکا نیوکې هم کوي) نـه ډیر کار راغلی دی ... درسي کتابونه ورتـه مـوږ چـاپوو، بیا پورته شو هغه کتابونه یې ورته و ښودل،چې تـول پـه

پښتو اوفارسي کې وو، کوم چې په ۲۰۰۰ زکال فبروري کې اسلام اباد کې چاپ شول او بيا وروسته چې کله امريکا افغانستان ته راغله، افغانستان يې ونيو، نوسملاسي يې هغه کتابونه داسلام اباد نه کابل ته منتقل کړل او دخپل اشغال ترسيوري لاندې ښوونځي، ليسې، او پوهنتونو نه پرانيستل، او دهغو تدريس يې پيل کړ، حال داچې هغه ټول د۲۰۰۱ ز دسټمبر څخه وړاندې چاپ شوي وو، د يته په کتو داخبره رښتيا ده چې دامريکا لخوا په افغانستان باندې ديرغل پريکړه له ډيره پخوا څخه شوې وه.

کله چې د ستمبر په يوولسمه نيټه په امريکا حمله وشوه، امريکائي چارواکو په څو د قيقو کې اسامه بن لادن د هغو مسؤل وګرځاوه، او دافغانستان اسلامي امارت يې په دې تورن کړ چې هغه پخپل هيوادکې اسامه بن لادن ته پناه ورکړې ده اود کوم څنډ پرته يې طالبانو څخه په کلکه غوښتنه وکړه چې شيخ اسامه بن لادن دي دوی ته وسپاري! کنه دوی به د خپل انتقام اخيستو لپاره ګامونه واخلي.

زبات ساده لوح خلک تيروزي هغوی وايي: طالبانو ولې ديوسړي په سر ټول هيواد په امريکا يانو رنګ کړ؟ حقيقت دادی که هغوی اسامه ور سپارلی هم وای، بيا به هم امريکا دبلې پلمې په جوړولو سره په افغانستان خامخا يرغل کاوه، دا دامريکايانو عادت دی چې هغوی دخلکو تيرايستلو لپاره د پلمو او بهانو څخه کار اخلي، دميديا له لارې پخپلو مخالفينو باندې تورونه لګوي، هغوی نړی ته ګوابن او خطر وړاندې کوي او پرضد يې ديرغل اخطارونه کوي، د يوو لسم ستمبر نه داکتوبر تر اوومې نيټې په ۲۶ ورځوکې امريکا په افغانستان يرغل کولو تابيا ونه نيوه، بلکې دا له ډيره وړاندې څخه د امريکا ټاکل شوې ستراتيژي وه،چې بيرون ته يې نه وه ښکاره کړې او دا زکه چې امريکايان او په مجموع کې ټول غربيان خپل اصلي مقاصد له نورې نړی څخه په پردو کې پټ ساتي « فی ظلمت ثلث،يا فی ظلمت سبع»هغه چاته په نظر نه ورزي ، دهغو ليدلو لپاره بصيرت ته اړتياوي، هغه څوک يې وينې چې ورته الله تعالی بصيرت ورکړی وي، هغوی پوهيږي چې د پردې ترشا څه روان دي ؟

حاصل داچې د ميزان ۱۵مه تورە اوبدمرغه ورځ وه، په دې ورځ امريکائي طاغوت دټولو نړيوالو اصولو څخه په ښکاره سرغړونه زمور په هيواد ديرغل جسارت وکړ، او په لکونوانسانان يې شهيدان ټپيان او اسيران کړل ، دتيرو ۱۹ کلو نو په موده کې امريکا پخپل ټول پرمختللي ځواک سره کوښښ وکړ چې جګړه کې بری ترلاسه کړي او افغانستان خپل مستعمره هيواد وګرځوي، لله الحمد افغان ولس دجها د لارې په غوره کولو امريکا يانو ته د هغوی د سرونو په کوپړيو کې اوبه ورکړي، چې له امله يې د ۲۰۱۹ زکال دفبروری په ۲۹ مه نيټه د خپل شکست پاڼه لاسليک کړه او ورسره سم يې دخپلو عسکرو او ځواکونو په ويستلو شروع وکړه، چې د څنډ پرته تردې مهاله جريان لري.

هو! امريکا چې د افغانستان جګړه ځومره اسانه او ارزانه تخمين کړې وه، دهغه نه په سل چنده ورته سخته او ګرانه پريوته، امريکائي پاليسي جوړونکو دافغانستان نيولو لپاره ځومره کاذبانه پلمې او بهانې و تراشلې هغه ټولې درواغ ثابتې شوې او د ټولې نړی پر دې باور راغی چې امريکا په افغانستان ديرغل کولو لپاره کوم دلايل وړاندې کړي وو، هغه ټول دروغ وو او د امريکائي ادارو لخوا په جعل کاری سره جوړ شوي وو، امريکائي جنرلانو افغان جګړې ته دواقعيتونو له زوايې څخه دکتلو پر ځای د مفروضاتو او افواهاتو له ليده کتل کول زکه خو يې له ځانو سره امريکاته د تاريخي شکست پيغور وياسه!

دافغانانو درد يواځې

اسلامي نظام دوا کولای شي!!

د کابل رژيم د مشر- يوه مرستيال، د افغان ولس تاريخ او مشاهيرو ته تر سپکاوي وروسته، د خپلو په اصطلاح سرو کرښو د توجيه لپاره بيا چتيات او اپلتي ويلي دهغه جمهوريت او نظام يې کلکه دفاع کړي او (د افغانانو د نجات بېړی) يې بللي چې افغانان يې د نوم اوريد سره غرونه غرونه نفرت اوکرکه لېږدوي.

سرور دانش ويلي چې جمهوريت دتولو لپاره دنجات کښتی ده او افغانان يې بائيد هغه له لاسه ورنکړي .

دقدرت، امتيازاتو ،فساد،چوراوچپاول په نيشه کې غرق دکابل مختوري چارواکي دومره په افغان ولس درندو او کنو ګومان کوي چې ته وايی هغوئ داتير ۱۹ کلن ناورينونه، وحشتونه او ستمونه چې دهمدغه ناولي جمهوريت له لمنې راتوليد او رالويدلي هير او هيڅ په حافظه کې نلري؟

دکابل اداري باداران او غربي متدصيان معترف دي چې دفقر، فساد، بې ثباتيو او هرډول بې بندوباريو کې دکابل نظام او چارواکي نمبر ون دي او په ټوله دنيا کې ساری نه ليدل کيږي.

خو دانشګی بياهم دخلکو په سترګو کې خاوري شيندي وضعيت او.جمهوريت داسې معرفي کوي ته به وايی چې هيڅ جبر او کفر يې نده کړي خلکوته يې دژوند ، معشيت او ثبات بی مثاله لوريني لرلي .

سرور دانش دې نور افغانستان په خای پريږدي تنها دې دکابل ښار عمومي وضعيت دې افغانانو ته تشريح کړي چې دده دغه قاتل او داړه مار جمهوريت دا ۱۹ کاله څه ورکړي او هلته اوس کوم حالت روان دی؟

هسې اوتي بوتي خو دسرور دانش دولسمشر (اشرف غني) هم دشوندو دسر توري دی چې وايی له پکتيکا پرته يې ټول افغانستان جوړ کړ؛ خو حقيقت خو هر بادرکه افغان ته معلوم او عيان ده چې دغه دروغجنو اود جمهوريت کذابو چارواکو له چور چپاول، قتل، غارت او اسلام ضد کړنو پرته افغانانو ته بل هيڅ ارمغان او ډالی نده ورکړي

نوسرور دانش ته دې ووئيلي شي چې افغانان پوهيږي چې تاسي ددغو شعارونو تر پلو او عنوان لاندې څه لټوي او څه غواړی

قطر کې چې کله دسرور دانش خپلي ځاني ګټې په خطر کې ولويږي نو بيا وايی ددوحی ټرون دې مات شي او طالبان دې دقران او سنت په رڼاکي خبري ورسره وکړي او کابل کې بيا چې دبې دانشه مزي اوچړچي متزلزلي شي نو قران او سنت اوجعفري فقه له ياد باسي شاته يې غورځوي په دې وخت کې بيا شړيدلی جمهوريت دنجات کښتی بولي!!

د افغان مسلمان ولس تاريخ ته په سر وربښکاره کولو سره جوته ده چې په دې وطن کې پردی مفکورې نه چليږي، که پردی نظريی او بهرنی اجنداوي دچليدو وړ وای نو دامريکا اوناټو په زور به راوړل شوي جمهوريت او اشغال افغانانو منلای وای او اوس به دانش ته ضرورت نه پيښيده چې له دو لسيزو ورسته له افغانانو غواړي چې جمهوريت ورسره ومني

افغانان مسلمانان دی دلته به يواسلامي ريښتينی نظام دخلکو تنده ماتوي او وربانديي راټوليږي به، ځکه دا اسلامي نظام ده چې سني، شيعه او هرچاته خپل حق ورکوي هرڅوک يې ترسيوري لاندې په ارام ژوند تيرولای شي او سرور دانش دې پوه وي چې که هرڅومره جعل او تزوير وړاندې کړي داسلامي نظام دراتک شغلي افغانانو ليدلي که نن وي که داکار به کيږي ان شاء الله تعالی



دیني مدرسې

فکري یرغل ته دپای ټکی!

تعلیم یوداسې نوم دی چې په اوریدو سره یې ډېرذهنونو په راتلونکو ګټو اوروښنایيو باندې نظراچوي ځکه تعلیم هغه باضمانته معلم دی چې انسان ته دکامیابی تروروستي بریده لار په ګوته کوي هغه ځلنده رڼا ده چې دنسلونو راتلونکي وګړي یې په زریعه دخپلو پخوانیو له ګټورو تجربو اولارښوونو خبرېږي دیو داسې نه سترې کېدونکي یون طرف ته یې متوجه کوي چې زیات واټن په لږ وخت کې لنډ کړي، تعلیم هغه سیند سره ورته والی لري چې د رنګ رنګ باارزښته ډبرو درلوودونکی وي چې دهغه ارزښت ناکو ډبرو په وسیله دانسان ژوند له کړاونو څخه دراحت طرف ته راوخي. دانتهای کمال هغه تخت دی چې دزوال بدترین بشارت هیڅ وخت خپل صاحب ته نه اوروي،

هغه باعزته ملګری دی چې دبد صفت توقع ورنه محال ده ددې قیمتي جوهر دحصول په موخه چې ټولنه مو دفکري یرغل نه ساتي داسلام دمبارک دین په چوکاټ کې مهم دیني مراکز (مدارس) رامنځته شوي دا دیني مراکز زمونږ دسپېڅلي دین په تاریخ کې. داصحاب صفه په نوم لومړی مدرسه ثبت ده مدرسه یواخینی درسګا ده چې اسلامي ټولنې ته یې سترې علمي څېړې تربیه کړې دي، دنورو باطلو عقیدو دپېروانو داسلام ضد اهداف یې عملي کېدو ته نه دي پرېښي، دمسلمه امت اذهان یې دکفري نړۍ دفکري جګړې نه باخبره ساتلي دي، اسلامي امت یې دخپلو اسلافو له زرین تاریخ څخه باخبره ساتلی دی، اسلامي امت یې دسرښندونکو اتلانو په روزنه نازولی دی، زمونږ په ګران هېواد چې دتاریخ په اوږدو کې کله هم چا حمله کړې، نو همدا دمدارسو زده کونکو (طالبانو) اوښوونکو یې په خلاف په عملي جهاد لاس پورې کړی دی، چې ښه بېلګه یې دمشر ملا صاحب (ملا محمد عمر مجاهد) دفساد ضد قیام دی، چې وروسته یې پرحق مبارزه باندې ټوله نړۍ قایله شوه اودهغه په وړاندې یې خپله ماته هم اعلان کړه .

دهمدې علمي مراکزو طالبانو خپل حقاني استقامت دهیڅ زورور په وړاندې تم نه کړ، دخپلو هېوادوالو دسراومال ،عام المنفعه. ځایونو زیرمو ، جهادي فکرونو ،محراب ، ممبر ، منار اواسلامي شعایرو ساتنه یې تر ننه کړې مدرسې دغیرو دفکري یرغل لپاره دپای ټکی شوې. پای

حسن مومند

د ازربایجان او ارمنستان نوې شخړه

د ازربایجان او ارمنستان ترمنځ جنګ لاهم روان دی؛ دواړه هېوادونه په یو بل تور لګوي چې اول یې حمله کړیده؛ هر یو خپلو فوځونو ته د مخکې تللو حکم کړیدی او هر یو بل ته د لویو ځاني او مالي زیانونو د ور اړولو دعوې هم کوي.

دقفقاز په جنوب کې پروت د ازربایجان په نوم داسلامي هېواد نګورنوکاراباخ ولایت هغه مهال د تولې نړۍ توجو ځان ته راجلب کړه چې کله پرې د ګاونډي هېواد ارمنستان بیلتون خوښو برید وکړ؛ دا برید د دواړو هېوادونو ترمنځ دسخت جنګ د رامنځته کېدو سبب شو؛ معلومه نده چې دا مقاله خپرېږي دلته به حالات څه ډول وي خو دم ګړۍ جنګ ښه په شدت روان دی او ویل کېږي چې دېره ستره مرګ جوبله پکې رامنځته شویده .

په سهیل ختیځې اروپا کې د نګورنوکاراباخ ستونزه چې پرې له کلونو کلونو راهیسې د دواړو هېوادونو لانجه ده او دالانجه څو ځلې د جنګونو سبب شوی هم ده ؛ دا ستونزه داسې ده لکه په جنوبي آسیا کې د کشمیر ستونزه.

دکوه قاف په جنوب کې پرته د نګورنو کاراباخ په نوم داسیمه کابو ۴زره ۸ سوه کیلو متره مساحت لري چې د ازربایجان دپلازمېنې باکو نه ۲۷۰کیلو متره لرې پرته ده ؛ دنفوسو شمېر یې ۱۵۰ زرو ته رسېږي چې ۹۰سلنه یې ارمني مسیحیان دي او ۹سلنه یې دتاتاري نسل سني ترکان دي.

یانې په اصولي لحاظ داسیمه دازربایجان پورې تړاو لري خو داوسېدونکو لویه برخه یې ارمنیان دي چې همدا دستونزې اصل لامل دی.

په زړه پورې دا ده چې ارمنیان ددې سیمې اصل اوسېدونکي ندي بلکې روسي په ۱۹۲۳ کې د ارمنستان نه دې سیمې ته راوستي، پکې یې مېشت کړي او دې سیمې ته یې له خپل لورې ازادي ورکړیده نو ځکه ویل کېږي چې ددې ستونزې اصل عاملین روسان دي.

دنگورونوکارباخ ارمني مسيحيان دا سيمه د (ارتکش ريپبلک) په نوم يادوي؛ ازربايجان پدې نوم اعتراض نه لري او ورته يې نيمه خود مختاري هم ورکړيده خو ارمني مسيحيان پدې ندي قانع بلکې ددې سيمې داسې ويشل غواړي چې دنفوسو په تناسب په يوې کوچنۍ برخې د تاتاري مسلمانانو او په زياته برخه يې د دوئ خپلواک دولت وي چې دا تجزيه نه د ازربايجان او نه هم ددې سيمې دتاتاري مسلمانانو لپاره دمنلو ور ده.

په ۱۹۹۱م کال کې روسې نه د ارمنستان او ازربايجان د ازادۍ اخستلو پرمهال په نگورنوکارباخ کې هم دازربايجان نه د ازادۍ اخستلو په موخه ارمنيانو د ازادۍ اخستلو لپاره خوځښت پيل کړ چې د خپلو لپاره يې ازربايجان نگورنو کارباخ ته فوځ واستولو چې په مقابل کې يې ارمنستان هم د ازادۍ غوښتونکو سره عسکري مرستې وکړې او په دې سره ددواړو هېوادونو تر منځ جنګ پيل شو چې د دواړو لورونه پکې کابو ۳۰ زره انسانان ووژل شول.

دجنګ په جريان کې د ازادۍ اعلانونه هم وشول خو آزادي يې په بهر نړۍ کې چا ونه منله؛ په ۱۹۹۳م کال کې دملګرو ملتونو دامنيت شورۍ دجنګ بندۍ هڅې وکړې خو ارمنستان له کارباخ نه خپل فوځونه ونه ويستل؛ په ۱۹۹۴م کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ دجنګ بندۍ ترون رامنځته او جنګ پای ته ورسېدلو خو په ۲۰۰۶م کال کې دکارباخ ارمني مسيحيانو خپل اساسي قانون جوړ او دکارباخ خپلواکي يې اعلان کړه چې همدا روسې او ارمنستان دځان لپاره پلمه کړه؛ د نگورنو کارباخ خپلواکي يې ومنله او ورسره يې اقتصادي او عسکري مرستې پيل کړې

چې لا ترننه روانې دي خو دېيلتون خوښو سره دا مرستې ازربايجان او ترکې ته دمنلو ور ندي نوځکه په بيلتون غوښتونکو او په حمايت کوونکو يې ازربايجان حملې کوي او ترکيه يې شاته ولاړه ده.

که په غوروکتل شي دې جنګ يواځې همدا سيمه نده بد امنه کړې بلکې نړيوال امن يې هم د خطر سره مخامخ کړيدی ځکه چې په جنګ کې د ښکېلو دواړو هېوادونو دحمايت کونکو هېوادونو ترمنځ د لوی جنګ رامنځته کېدو خطر شتون لري.

ترکيه د ازربايجان سره ولاړه ده خو روسيه د ارمنستان حمايت کوي.

ارمنستان تورلګولی دی چې د ترکې جنګي طيارې د ارمنستان هوايې حدودو ته را ننوتې او د ارمنستان يوه جنګي طيارې يې رانسکوره کړيده؛ طيارې په بشپړ ډول تخريب شوی او پيلوټ پکې مړ دی.

د ارمنستان رسنيو ويلي دي چې د ارمنستان حدودوته د را داخلېدونه پس د ترکې ايف ۱۶ډوله طيارې د ارمنستان ايس يو ۲۵ ډوله طيارې په نښه او رانسکوره کړه.

خو ترکې د ارمنستان دا تور رد کړيدی.

ديادولو ور ده چې په بين المللي سطحه نگورنو کارباخ د ازربايجان برخه تسليم شويده خو په ۱۹۹۴م کال کې د دواړو هېوادونو تر منځ د جنګ ختمېدو نه پس د دې سيمې واک د ارمني نسل سره دتراو لرونکو وګړو سره دی.

اوسنی پیل شوی جنګ شدید دی خو که پکې چېرې ګاونډي هېوادونه هم مخامخ شامل شول نو به تري نړیواله ستونزه جوړه شي.

د جنګ پیل کېدو نه پس د ملګرو ملتونو د امنیت شورۍ یوه بېړنۍ غونده وکړه څکه چې په نړیواله سطحه دا تشویش زیات شوی چې په دفاعي او جغرافیایي لحاظ مهمه د قفقاز سیمه کې پیل شوي دي جنګ کې دنورو هېوادونو د اخته کېدلو خطر مخ پر زیاتېدو دی. د ارمنستان دولت په هېواد کې بېړنۍ حالت اعلان کړی او واک فوځ په لاس کې اخستی دی. دجنګ پیل کېدو نه پس د ازربایجان ولسمشر الهام علیوف ویلي دي چې پدې مطمئن یو چې زموږ نه پخوا نیول شوې سیمې به بېرته ونیسو.

ارمنستان دجنګ دپیل کولو پره په ازربایجان اچولې ده او ویلي یې دي چې ازربایجان په ارمنستان د ځمکنو او هوایي درندو بریدونو نه دا جنګ پیل کړیدی.

دا مهال ترکیه په کلي دول د ازربایجان تر ځنګ ولاړه ده ؛ روسیه چې په ارمنستان کې فوځي اډه لري د ارمنستان سره یې فوځي مرستې روانې دي خو داسې ښکاري چې د دې جنګ دوام نه غواړي نو ځکه یې دجنګ د ودرولو غوښتنه کړیده.

که په غور وکتل شي نو د روسې او ناټو ترمنځ دجنګ درامنځته کېدو خطر مخ په زیاتېدو دی.

ازربایجان دکسپین بحیرې پر غاړه د ختیځې اروپا اولویدیځې آسیا په منځ کې دتېلو له زېرمو ډک هېواد دی ؛ شمال لوري ته روسیه ، جنوب ته یې ایران او لویدیځ ته یې ارمنستان پروت دی.

په ۱۹۹۱م کال کې چې ازربایجان د روسې نه ازادي ترلاسه کړه تر تولو وړاندې ورسره ترکې ، پاکستان ، ایران او امریکا دیپلوماتیکې اړیکې جوړې کړې.

دلته ۱۰ ملیونه انسانان ژوند کوي چې اکثریت یې دمسلمانانو دی ؛ دلته په آزري او روسي دواړو ژبو غږېږي؛ دا هېواد د تېلو د اهمو صادرونکو هېوادونو څخه ګڼل کېږي.

په ۱۹مې میلادي پېړۍ کې دا هېواد د روسې او فارس ترمنځ تقسیم و؛ دهمدې پېړۍ په منځ کې دلته دنړۍ تر تولو پرمبې دتېلو زېرمه کشف شوه .

په ۱۹۱۸م کال کې ازربایجان خپله ازادي اعلان کړه خو روسې یې ازادي ونه منله خپل فوځونه یې ورننویستل او تر ۱۹۹۱م پورې دا دروسې تر استعمار لاندې پاتې شو؛ په افغانستان کې د روسانو دماتې او شوروي اتحاد د ټوټه کېدو په نتیجه کې چې ۱۹۹۱م کال کې چې د منځنۍ آسیا هېوادونو له روسې ازادي واخسته نو ازربایجان هم ازاد شو؛ الهام علیوف ددې هېواد څلورم ولسمشر؛ دخپل پلار حیدر علیوف ځای ناستې او له ۲۰۰۳م کال راهیسې په واک کې دی.

ارمنستان دشرقي اروپا اولویدیځې اسیا په منځ کې پروت یو داسې هېواد دی چې سمندر ته لار نه لري؛ لویدیځ ته یې ترکیه او ختیځ لورته یې ازربایجان دی؛ د دېرو پخوانو مسیحي تهذیبونو څخه ګڼل کېږي؛ په څلورمې مسیحي پېړۍ کې پکې کلیساوې

جـوړې شـويدي؛ د نـورو اروپـايې هېوادونو په پرتله يې تـاريخ قـديم دی؛ دلته يواځې ۳مليونـه او ۱۰۰زره انسـانان ژوند کوي چې زياتره يې مسيحيان دي، دې هېواد کې خلک پـه ارمني او روسي ژبو غږېږي؛ ننی ارمنستان د تاريخ په اوږدو کې په مختلفـو وختونـو کې دبازنطين، فارس، منګول او ترک سلطنتونو برخـه وه؛ پـه ۱۹۱۸م کال کې د اول نړيوال جنګ پر مهال دلتـه دعثماني خلافـت فوځونـه شاتګ ته اړ شوي وو خو دارمنستان ازادي په نصيب نـه شـوه بلکې دېر ژر روسي ترخپلې قبضې لاندې راوست چې د ۱۹۹۱م کـال پـورې دا قبضه قائمه وه؛ په ۱۹۹۱م کال کې چې شوروي اتحاد پـه افغانسـتان کې ماتې وخوړه او توته شو نو ارمنستان هم ازادي ترلاسه کړه.

د ارمنستان او ازربايجان ترمنځ دلانجې محور دنګورنو کاراباخ سيمه ده؛ ياده سيمه په نړيواله سطحه د ازربايجان برخـه ګڼـل کېـږي خو په اداري چوکاټ کې اکثريت د ارمني نسـل دی؛ د همـدې سـيمې دقبضې لپاره د دواړو هېوادونو تر منځ پـه ۸۰يمـې او ۹۰ يمـې لسـيزې کې خونړي جنګونه رامنځته شوي وو؛ په ۱۹۹۴م کال کې دروسې پـه کوششونو دجنګ بندی، نه وړاندې نګورنوکاراباخ د ارمني فوځونـو ترولکې لاندې راغلی وه؛ پدې ترون کې راغلي و چې داسـيمه بـه پـه اصولي لحاظ د ازربايجان برخه وي خو واک به يې د دې ځای دارمني نسل اوسېدونکو وګړو سره وي د دا دواړه هېوادونه د ختيځې اروپا د قفقاز په نوم سيمې سره تړاو لري چې په دفاعي لحاظ دېره مهمه ده.

اوسنی جنګ لا پسې ځکه لانجمن شوی چې يو لوري ته ترکيه چې دناټو غړيتوب لـري د ازربايجـان سره ولاړه ده او بـل لـور تـه د ارمنستان تر شا ودرېدل روسيه خپله ارتيا ګڼي ځکه چې په ارمنسـتان کې روسيه هم فـوځي اډه لـري او هـم دا دواړه هېوادونـه د کليکټيـو سيکورټي تړيتي ارګنايزيشن په نوم د فوځي اتحاد غړي دي؛ روسيه د ارمنستان سره فـوځي مرسـتې کـوي خو روسيه نېغ پـه نېغـه د ارمنسـتان سره نه ودرېږي بلکې ځـو ځلې د دواړو هېوادونـو تـر مـنځ د دريـم ګړی رول ادا کړی خـو کـه جنـګ دکاراباـخ نـه نـورې سـيمې تـه وغزېږي او د جنګ په جريان کې بيا دروسې اډې ته هم کومـه ګـولۍ ور ورسېږي نو دا جنګ د ځنګـل د اور په ځېر خپرېدای شي.

نړيوالو سـتراتېژيکو حـالاتو تـه پـه پـام سره روسـيه او ترکيـه د يوبـل اتحاديـان دي خـو دا چـې دهرچا خپـل ترجيحـات دي او هـر ځـوک خپلـو ګټوتـه ګـوري نـو دا دواړه هېوادونه په ځينو ځايونو کې ديو بل مقابل هم ښکاري؛ په ليبيا او شـام کـې لا لـه وړانـدې دا دواړه هېوادونه پـه مخـالفو سـمتونو کې قـرار لـري اوس نګورنـو کاراباـخ دريم ځای دی چې روسـيه دجنـګ ديـو او ترکيـه دبـل اړخ تـر شـا ودرېږي.

افغانستان و انتخابات ۲۰۲۰ امریکا؛ مهم کیست و کیست؟

حبیبی سمنگانی

در جریان رقابت‌های انتخاباتی درون‌حزبی و ملی امریکا، تا هنوز هیچ بهانه‌ای برای مقامات کابل میسر نشده است که کف بزنند و اندکی مورال بگیرند. دلیل‌اش اینست که نخست تمامی نامزدان انتخاباتی دموکراتان و جمهوری‌خواهان در رقابت‌های درون‌حزبی بر پایان فوری جنگ در افغانستان اصرار داشتند و سپس تا اکنون ترامپ و جو بایدن نیز بر بیرون‌رفت از افغانستان پافشاری داشته‌اند، و این چیزی است که اداره کابل به معنای مرگ خود می‌داند. از همینست که اداره کابل با همه نگرانی‌های که از پیروزی دوباره ترامپ دارند، نمی‌تواند از جو بایدن هم خوش‌بین باشد.

جو بایدن در سومین مناظره تلویزیونی نامزدان درون‌حزبی دموکرات‌ها در سپتامبر ۲۰۱۹ ضمن اینکه افغانستان را کشور اصلاح ناشدنی و خود را طرفدار چندپارچگی افغانستان خواند، گفته بود: خروج سربازان امریکایی از اهداف سیاست خارجی اوست. در حالی‌که تنها چند روز پیش، ترامپ در سلسله ای از توییت هایش مذاکرات با طالبان را متوقف ساخته و مذاکرات را «مرده» اعلان کرده بود.

سپس جو بایدن در اکتوبر ۲۰۱۵ در پاسخ به این پرسش نهاد «شورای روابط خارجی» که : آیا شما متعهد به خروج کامل نیروهای امریکایی از افغانستان تا پایان دوره اول ریاست جمهوری‌تان هستید، گفته بود : من نیروهای امریکایی را در دوره اول خود به خانه می‌آورم.

جو بایدن اگرچه در فبروری ۲۰۲۰ در واکنش به خواست رقیب درون‌حزبی اش خانم الیزابت وارن که : حالا زمان آن فرا رسیده است که نیروهای ایالات متحده از افغانستان به کشورشان برگردند، گفته بود که خروج کامل نیروهای این کشور از افغانستان منتج به

بی‌ثباتی در این منطقه خواهد شد، اما در تابستان امسال، در حالی‌که کاندیداتوری‌اش از سوی دموکرات‌ها تقریبا نهایی شده بود، در مصاحبه خود گفت: ما نمی‌خواهیم به بهانه حقوق بشر- و حقوق زنان، در افغانستان بجنگیم و برای حل مشکل داخلی افغانستان نباید سربازان امریکایی مصروف باشند.

هرچه موقف ترامپ حتی از زمانی پیش از رسیدن به کاخ سفید و بلکه پیش از نامزدی وی در انتخابات ۲۰۱۶ روشن است. وی جنگ افغانستان را همواره بی‌فایده و بی‌معنا خوانده و به استثنا از ۲۲ اگست ۲۰۱۷ تا ۵ سپتامبر ۲۰۱۸، مدت یک‌سالی که استراتژی جنگی خود را در قبال افغانستان اعلان و اجرا کرد، وی همیشه بر پایان جنگ بی‌فایده افغانستان اصرار داشته و به‌خصوص پیمان پایان اشغال را در کمپاین انتخاباتی ۲۰۲۰ به عنوان دستاورد بزرگ دوره ریاست جمهوری‌اش یاد کرده است.

روابط میان ترامپ و اداره کابل در چهار سال گذشته نشیب و فرازهای داشته است. ترامپ تا ماه‌ها پس از آغاز کار ریاست جمهوری، با همه تکاپوی اشرف غنی آماده نشد با وی ببیند. البته، در دوره چهار ساله ترامپ، تنها دو بار اشرف غنی و تیم وی از موقف ترامپ استقبال گرم کردند. بار نخست در اگست ۲۰۱۸، آن‌گاهی که ترامپ استراتژی جدید جنگی خود را در قبال افغانستان اعلام کرد، و بار دوم در سپتامبر ۲۰۱۹، آن‌گاهی که ترامپ مذاکرات با طالبان را متوقف ساخت و پروسه مذاکراتی را «مرده» خواند.

برخورد ترامپ با اشرف غنی هم سوال برانگیز بود. به‌خصوص زمانی‌که ترامپ در نوامبر ۲۰۱۹ در سفر غیر منتظره‌اش به افغانستان، به‌جای ارگ به پایگاه نظامی امریکایی‌ها در بگرام رفت و اشرف غنی را آن‌جا جلب کرد. سپس غنی پس از سخنرانی به‌جای که در پهلوی ترامپ جا داده می‌شد، در بین عساکر امریکایی ایستاده کرده شد. این را حتی حامیان رژیم نیز تحقیر کننده خواندند. اما غنی ادعای رفاقت تنگاتنگ با ترامپ داشته‌است. در حالی‌که مشاور پیشین امنیت امریکا جان بولتون در کتاب خود «اتاق حوادث» در مورد شناخت ترامپ از افغانستان گفته است که وی در جلسات مهم در باره افغانستان، همیشه اشرف غنی را با حامد کرزی به اشتباه می‌گرفت.

بالمقابل طالبان به دلیل اینکه ترامپ از ابتدا مخالف جنگ افغانستان بود، یقینا او را تشویق می‌کردند که راه آبرومندانه برای بیرون

رفت نیروهای خود از افغانستان پیدا کند. وضعیت برای ترامپ روشن بود. زیرا اوباما در آخرین سخنرانی‌اش به‌حیث رئیس جمهوری امریکا به صراحت بر ناکامی‌اش در افغانستان اعتراف کرده بود و جنرالان دیگر امریکایی نیز هر از گاهی از شکست خود پرده بر می‌داشتند. ترامپ برای حفظ حیثیت باقی‌مانده امریکا به‌جز پایان جنگ دیگر چاره‌ای نداشت. اما آن‌گاهی که ترامپ بر اثر فشارها و توطئه‌های حلقات جنگ‌طلب امریکایی، استراتژی تازه جنگی خود را اعلان کرد طالبان جرات‌مندانه ایستادگی کردند و تجربه جنگی ترامپ را هم با شکست مواجه ساخته، او را دوباره به هوش آوردند و درس دادند که نباید همچو بوش و اوباما بر استراتژی جنگی اتکا کند و با رسوایی روبرو شود.

همچنان زمانی‌که ترامپ مذاکرات تقریبا نهایی‌شده را به هدف آوردن فشار بر طالبان متوقف کرد، واکنش طالبان بیان‌گر مورال بلند روانی آن‌ها بود. طالبان تصریح کردند که: «در ۱۸سال گذشته ثابت کرده ایم که به کمتر از خروج کامل نیروهای خارجی از افغانستان راضی نمی‌شویم و برای رسیدن به این هدف، به نبرد مان ادامه خواهیم داد». اما مقامات کابل که از ابتدا مخالف پروسه صلح بود، این فرصت را هم غنیمت دانستند و ضمن حمایت فوری از ترامپ، طالبان را عامل اصلی متوقف شدن مذاکرات دانستند.

مهم اینست که یکی از دلایل عمده تعطیل مذاکرات از سوی ترامپ این هم بیان می‌شد که وی خواهان آمدن تیم مذاکراتی طالبان به کمپ دیوید، خانه زمستانی رئیس جمهوری ایالات متحده، پیش از امضای توافق‌نامه بود، اما طالبان خواست ترامپ را نپذیرفتند و گفتند به‌جای معامله پنهانی، باید نخست توافق‌نامه علنا در دوحه امضا شود. این نشان می‌دهد که روش طالبان در برابر امریکا و ترامپ کاملا اصولی و جرات‌مندانه بود.

همچنان از نگاه آگاهان؛ اگر طالبان درین روزهای اخیر مبارزات انتخاباتی به آتش بس توافق می‌کردند، دستاورد بزرگی برای ترامپ می‌بود و در پیروزی دوباره ترامپ نقش ویژه‌ای را ایفا می‌کرد. اما موقف طالبان درین باب نیز معقول و منطقی بوده و هیچ تمایلی به سیاست‌های انتخاباتی امریکا نداشته است. زیرا طالبان می‌دانند که اگر ترامپ برنده شود یا جو بایدن، راه حل واقعی برای امریکا تنها و تنها پایان دادن اشغال افغانستان است. البته، این ابتکار ترامپ است که بر خلاف پیشینیان خود و با پذیرفتن واقعیت ها به پایان اشغال تن داده است.

اگر سیاست طالبان و اداره کابل را در باره چهار سال گذشته دولت ترامپ و به‌خصوص انتخابات ۲۰۲۰ امریکا، مطالعه و تحلیل کنیم، فشرده‌اش اینست که اداره کابل می‌خواهد ترامپ باشد یا جو بایدن، اما باید جنگ امریکا در افغانستان دوام پیدا کند و معضل چهل و چند ساله کشور دیگر هم طول بکشد. هرچه طالبان می‌خواهند ترامپ باشد یا جو بایدن، اما جنگ و اشغال افغانستان باید پایان یابد و به‌جای مداخله‌گری و زورگویی در امور افغانستان، افغان‌ها گذاشته شوند که سرنوشت خود را خودشان تعیین کنند.

د اسلامي حاکمیت هدف!

د اسلامي هیواد تعریف او شرایط

ابوظهیر شمس

رازو اصلي موضوع ته، هغه دا چې دامت ثقه وو او یا اعتماده علماوو د اسلامي مملکت په اصولو او مبادیو دعالمانه بحثونو لیکلو په ضمن کې د دین و سیاست ترمنځ د تفریق اوبیلتون مفکورې په کلکه تردید کړی دی او د دین و سیاست ترمنځ یې شریک امتزاج په دلایلو سره ثابت او توضیح کړی دی، یاپر بل سپیناوي داسلامي شریعت لارښوونو ته په کتو اسلام او سیاست دیوبل سره لازم وملزوم او یوبل څخه نه جلا کیدونکي دي،یعني زموږ شریعت، په دوه جلا، جلا اقلیمو نو کې د"اسلا و سیاست " ویشلو پرځای د دواړو ترمنځ د وحدت او امتزاج علمبردار دی، ددې لپاره مسلمانانو څخه دیو متعین، حاکم سیاسي هیئت جوړولو غوښتنه کوي،یا اعتماده محقق علامه "اسد صیب" دیادې نکتې په اثبات کې لاندینی استدلال کړی :

عظیم الشان قرآن دخپل پیغام پیل له دې اساسي مفکورې څخه کړی دی چې د "بشري ژوند ټول اړخونه دالهي وحي تابع دي او یو خپل اخلاقي قدرو قیمت لري " دغه وجه ده چې اسلام ځان تر روحاني لارښوونو او اخلاقي ارشاداتو محدود نه بولي، بلکې دبشریت له گردو کړو،وړو څخه بحث کوي، که هغه دفرد انفرادي کړه وړه دي اوکه دټولنې اجتماعي،اقتصادي اوسیاسي کړه وړه؛ بل اسلام دا غواړي چې د انسانانو ديني، اخلاقي، اعتقادي او تولنیز معاملات دي په یوبل پورې ترلې وي او هم د ديني و دنیاوې چارو ویش له امکان څخه بیرون بولي، د دین و سیاست یوځایوالی او امتزاج خپله ځانگړتیا گڼي.

بله دپام وړ نکته داده چې د اسلام مخاطب تنها فرد ندی، بلکې له وگړو څخه جوړه ډله یا اجتماع یې هم مخاطب ده،له کومې نه چې موږ په "ټولنه" تعبیر کوو، یعني اسلام له تولنیز ماحول سره د فرد په یوځا ی کیدو تینگارلري، د دې لپاره دفرد د روحاني او دیني روزنې ترڅنگ د

افرادو خپلمنځي اړيکو ټينګول او په سمه لار دهغوی رهبري کول اود فساد نه د ژغور لو لپاره يې څرګندې لارښوونې، احکام او قوانين را لېږلي دي، دعظيم الشان قرآن له مخې: د اسلام "حنيف دين" هدف تنها د ټولنې د وګړو لپاره اخلاقي طرزالعمل نبودل ندي، بلکې د هغوی د اجتماعي ژوند لپاره هغوی ته د مثالي عدل و انصاف نمونه يا اسوه حسنه هم ور ښيي، د افرادو عملي اجتماعي اړيکي په داسې ډول تنظيمول غواړي، چې هرفرد دخپل شخصيت جوړو لو لپاره دکمو ستونزو او مشکلاتوسره مخ شي او په باب يې هغه د ګټو اسانتياوو څخه برخمن اووسي، اسلام د دغسې يوې ټولنې د جوړولو داعي دی چې د افرادو دروحاني او اخلاقي ترقی، د ذهني او فکري ودې لپاره د مناسب ماحول برابرو لو ترڅنګ هرفردته دجسماني او مادي اړتياوو دتکميل تضمين هم ورکړي څوپه ټوله کې ټول وګړي يا افراد په دادمنه او دخوښيو په فضا کې داسلامي ژوند کولو فرصت ولري.

د دې مقاصدو دلاسته راوړو په غرض اسلام خپلو منونکوته په نظم کې دخپلو ځانو نو د ځايو لو لپاره يو معين اجتماعي نظام تشکيلول غواړي، يا په بل تعبير اسلام يوځانګړی ټولنيز،اقتصادي، حقوقي اوسياسي نظام تجويزوي،او د هغه لپاره مسلمانانو څخه د دينياتو او اخلاقياتو د ګډ تصور په دايره کې ديو متعين سياسي طرزالعمل غوره کولو غوښتنه کوي، دسياسي امت د تشکيل وتنظيم لپاره په عملي لاښې سربيره د انفرادي حقوقو و فرايضو او د اجتماعي مسؤليتونو د سرته رسولو په اړه يوه جامعه خاکه يانخچه هم وړاندې کوي.

دې لړ کې علماء درسول الله صلی الله عليه وسلم په "اسوه حسنه" استدلال يا استشهاد کوي،او ښکاره ده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دنبوت په ۲۳ کلنه دوره کې يواځې دافردو په اخلاقي او روحاني تربيت اکتفا ونکړه، بلکې هغوی ته يې داجتماعي ژوند تيرولو په اړه هم د«ترتيب وتنظيم» يوه غوره نقشه ورکړه ، رسول الله صلی الله عليه وسلم يواځې د افرادوپه ديني او اخلاقي پالنه بسيا ونکړه بلکې د يو عادلانه او منصفانه ټولنې رامنځته کولو په پار يې مکمل دستور هم ورکړی دی

دعلماوو په نظر داسلامي حکومت په تشکيل کې پخپله داسلامي قوانينو او احکامو ديوې لوبې برخې « هغه چې داجتماعي ژوند تيرولو پورې اړه لري»عملي اجراء او نفاذ په هغه صورت کې مؤثر او[ممکن العمل ګرځيدای شي] چې کله عملاً ډير خلک متحد او يو شي او هغوی په ګډه اجتماعي کوښښونه وکړي؛ ديو فرد نيت که هرڅومره نيک وي، خو هغه خپل شخصي ژوند تر هغه پورې په سهي معنی اسلامي قالب کې نشي ځايولی څو چې د هغه شاوخوا ټولنه عملاً په اجتماعي معاملاتوکې د"اسلامي اُسوې" د پيروی کولو ګډ عهد ونکړي.

نو اړتياده چې اجتماعي حالات رامنځته او پرځای وسائل شي څو وګړي له يوبل سره په هم آهنګي کې په ازادی حريت، عزت او وقار سره ژوند تيرکړای شي

هو!په هره ټولنه کې ديو فرد يا د څوتنو لخوا بغاوت يا سرغروني ټولنيز نظام درهم برهم کولی شي،د ياغي عناصرو موجوديت د خلکو

لپاره د یوې مثالې ټولنې دننه هم ژوند مشکل گرځوي، نو دعلماوو په قول:داخبره ضروري ده چې یوسیاسي ځواک دملت له لوري د قانون د نفاذ په وړاندې دسرغړونو اوبغاوتونو دمخنیوي مسؤلیت په غاړه واخلي اوهغه داجتماعي معاملاتو په اړه دیوې منظمې سیاسي ادارې یعنې حکومت چې د« امرو نهي او قانون دنفاذ» اومره واک هم و لري، یعنې دحقیقي اسلامي ژوند دترتیب وتنظیم لپاره داسلامي حکومت جوړیدل د ضروري شرط حیثیت لري.

داسلامي لارښوونې له مخې:داسلامي حکومت جوړیدل محض سیاسي ضرورت نه، بلکې دیني او شرعي وجیبه هم ده، زکه چې داسلامي ټولنې دبې شمېره مصالحو دتکمیل نه علاوه داسلامي شریعت دگڼو قوانینو، احکامو د اجراء او نفاذ انحصار هم په حکومت پورې موقوف دی، په دې وجه د اسلامي واکمنۍ یا حکومت رامنځته کول دامت اجتماعي نصب العین او اخلاقي مسؤلیت هم بلل کېږي.

داسلامي هیواد تعریف، شرایط او مقاصد یې:

پوښتنه داده چې به دا څنگه معلومېږي چې یو هیواد واقعاً اسلامي هیواد گرځیدو په معیار پوره دی؟ یعنې داسلامي هیواد تعریف او دهغه غوښتنې څه دي؟ یا په نورو الفاظو هغه لازمي شرایط او مقاصد څه دي چې دهغو په پوره کولو یا ترلاسه کولو سره یو هیواد ته په حقیقي معنی اسلامي... ویل کیدای شي؟ ایا هغه هیواد چې دوگړو دروند اکثریت یې مسلمانان جوړوي او دسیاسي واک واگې یې هم دمسلمانانوپه لاس کې وې، له سیاسي پلوه ازادي او خپلواکې هم و لري، نو ایا په دې سره هغه یو حقیقي اسلامي هیواد گڼل کیدای شي ؟

د اسلامي فقهاوو او علماوو علمي اوفقهي تصریحاتو ته په کتو سره عرض دادی چې د اسلامي هیواد لپاره فقهاوو د« دارالاسلام» اصطلاح کارولې ده،د امت په ایمه وو کې دا اصطلاح ترټولو مخکې حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله او بیا نورو ایمه وو کارولې ده، ټولو د « دارالاسلام» شرایط او مقررات په ښه "شرح و بسط" سره بیا ن کړي دي، داسلامي فقهاوو په اند: "دارالاسلام" هغې سیمې یا هیوادته ویل کېږي چیرته چې:

۱- مسلمانان ازاد، او په ډاډ سره میشت وي،او هلته هغوی په اسلامي احکامو باندې د عمل کولو لپاره بشپړه ازادي شتون ولري او اسلامي شعایر په ښکاره قایم او خوندي وي.

۲- هغه سیمه یا هیواد چې پکې اسلامي نظریه سرلوړې او برتري ولري.

۳- هغه سیمه یا هیواد چې په سیاسي لحاظ مسلمانان پکې ازاد او خپلواک حیثیت ولري.

لیکن پېښه داده چې د لومړي نړیوال جنگ وروسته داغیارو په لاس د" اسلامي خلافت"په ړنگیدو سره ټوله اسلامي جغرافیه یا په نورو الفاظو ټول اسلامي هیوادونه پر قومیتونو او ملت پالنو وویشل شول،چې دشک پرته په دې سره اسلامي نړۍ دیو نوي ډول حالت او وضعیت سره مخ شوه، دکوم له امله چې نن سبا د ډیرو لره د" دارالاسلام، دارالحرب او دارالصلح" اصطلاحات یا حدود دموجوده زمکنیو واقعیتونو سره اجنبي بریښي، زکه چې په اکثریت اسلامي هیوادونوکې سیکولر (لادین) رژیمونه واکمن دي، د "دارالاسلام" ځای اوس دریاست، مملکت یا

دولت [الدّولـه(state)] اصـطلاحاتو نيـولی دی، هـواد دې صـورت يـا حالت په رامنځته کيدو سره علماوو هم داسلامي هيـواد لپـاره د جـلا او ممیز کونکي تعريف ضرورت محسوس کړی، هغوی داسلام، سياسـت و حکومت ترمنځ شته ربط د واضح کولو وروسته داسلامي هيواد لپـاره يـو نـوی تعريـف هـم وضـع کـړی دی لکـه پـه اړه يـې نـامتو اسـلامي څيړونکي شخصيت محمد اسد صيب ليکلي:

A trli islmic state - that is a state bascd (in distinction from all other existing political groupmnts)

۱ــ يواځي هغه هيواد اسلامي بلل کيدای شي، چې هغه د نسـل، منطقې، ژبې، او ملت پالنې پر ځای د ژواندانـه لپـاره د قـران وسـنت پـه وراندې کړې نظر يې ولاړوي.

۲ــ هغه هيواد ته اسلامي ويل کيدای شي په کوم کې چې دقرآن و سنت احکام د ملت په اجتماعي ژوند کې جاري او نافذ وي.

۳ــ هغه هيواد ته اسلامي ويل کيـدای دکـوم هيـواد پـه اسـاسي قانون کې چې دقران وسنت سياسي اصول او مبادي په پوره توګـه ځـای ولري.

د دې تعريف له مخې:هيڅ هيواد محض پـه دې "اسـلامي هيـواد" نشی کيدای چې هلته د مسلمانانو دروند اکثريت ميشت وي، حتـی کـه ديو هيواد ټـول وګـړي هـم مسـلمانان وو، خـو چـې هغـه د يـادو درې شرايطو په تـول پـوره نـه وو،اسـلامي نشي ـ بلـل کيدای،زکـه د حقيقـي اسلامي هيواد کيدو لپاره چې دکومو شرايطو پوره کولو غوښتنه کيـدای شي هغه داده چې د واکمنی سند به يې دقران وسـنت تـه ترلاسـه کـړی وي، او هم به پکې دقران وسنت د احکامو نفاذ علني او څرګندوي.

۱ــ يعنې په هغه هيواد کې به اسلامي شريعت د"اعلی قانون" پـه توګه شتون لري او دهيوادلپاره دنويو قوانينو تدوين به د هغـه پـر اسـاس کېږي، هيڅ قانون به دهغه «اعلـی قـانون» د الفـاظو او روح سره منـافي نشي جوړيدای، شريعت سره متصادم قوانين او اجرائيوي احکام به قطعاً صدور نلري، منسوخ او مسترد به ګڼل کېږي.

۲ــ د هغـه دسـياسي واک چارو واګې به ديـو مسـلمان فـرد پـه لاس کـې وي، پـه بـل تعبيـر يعنـې يواځي مسلمان به هلته د مشر غـوره کيد و اهليت لري.

۳ــ دصحيح اسلامي هيواد يا رست داساسي قانون يـا دسـتور يـوه "مابه الامتياز نکته" داده چـې دهيـواد دنظم ونسـق چـارې بـه پـه شـورايت سره پـرمخ وړل کېـږي، داسـلامي حکومـت تشـکيل بـه دعـامو وګـړو خوښـې اوراضـايت تـه پـه کتـو سره صـورت نيسي ــ يعنـې اسـلامي شريعت د حکومت جوړولو په برخه کـې دعـامو خلکـو د رضـايت پـه اخيسـتو ټينګـارلري کـه يوځـوک دعـامو رعايـاوو لـه رضـايت ترلاسـه کولو پرته په جبر سره وا ک ته ورسي او په ظلم او وحشت سره دخپل واک ينسټونو پـه قـوي کولـو لاس پـورې کړي اودخپلـې خوښـې قـوانين پـلي کړي دغسې هيـواد تـه اسـلامي.... نشي ويل کېدای.

۴ــ په اسلامي هيواد واکمـن به په حقوقي، اوسياسي چوکاټ کې دعدل و انصاف پلي کولو داعيان وي

۵ــ هغه هیواد کې به رسماً کومه شاهي او مراعات لرونکې کورنۍ یا ډله وجود نلري.

۶ــ په هغه هیوادکې به هیڅ یوه محرومه ډله یا کورنۍ شتون نلري.

دمدینې منورې د اسلامي حکومت خصایصو اوصفاتو ته په کتو علماوو لیکلي:

د«اسلامي هیواد» او د«مسلمانانو د هیواد»ترمنځ توپیر او امتیاز دادی: هلته چې د مسلمانانو اکثریت وي او واک هم دیو مسلمان په لاس کې وي،لیکن اساسي قانون یې داسلامي اساسي قانون خلاف وي، ور ته د"مسلمانانو هیواد"ویل کیدای شي خو "اسلامي هیواد" نه؛ همدا وجه وه چې دراشده خلافت وروسته، دبنو امیه، بنو عباس او په نورو خلافتو نوکې سربیره پر دې چې په ټولوکې اسلامي قوانین، حدود او تعزیرات پلي وو، خو بیا هم هغه د راشده خلافت پشان د" منهاج النبوة" نمونه یا مثال نشي- ګنل کېږي،ولې چې په هغوکې د یاد و اسلامي احکامو په نفاذ سربیره دملوکیت او شاهي نظام عنصر- هم غالب و،دا باید په ښکاره ووایو چې څنګه په اسلام کې دغربي دیمکراسۍ لپاره ګنجایش نشته، هغسې ملوکیت یا شاهي رژیم هم ځای نلري، شخصي امپراطوري هغسې داسلامي نظام داصولو او مبادیو سره تصادم لري لکه غربي دیمکراسي یې چې ورسره لري.

نود صحیح اسلامي هیواد نمونه درسول الله صلی الله علیه وسلم نیکمرغه دوره او بیا دهغې وروسته دراشدینو خلفاوو مبارکه دوره ده، او چې هرکله موږ داسلامي نظام او داسلامي حاکمیت خبره کوو، نو معیار او اسوه حسنه به مو" نبوي ریاست" او "راشده خلافت" وي، کوم چې دنسل، ژبې، وطن او ملت پالنې په اساس نه و جوړ، بلکې دعقیدې په اساس جوړ و، ټولو وګړوته پکې دنسل،ژبې اورنګ د توپیر پرته برابر حقوق حاصل و، هغه کې موږ ته کومه مراعات لرونکې، دیني اوسیاسي ډله په نظر نه رازي، تردې چې پخپله درسول الله صلی الله علیه وسلم "آل و اولاد او کورنۍ" لپاره هم څه ځانګړي مراعات مخصوص نه وو، په هغه واکمنۍ کې د قانون پر وړاندې د واکمنو او عامو خلکو حقوق او مسؤلیتونه مساوي وو، داقتصادي فرصتونو مندلو او د حقوقي فرایضو د اداء کولو په لړکې د ټولو وګړو حیثیت برابر و، لنډه داچې راشده خلافت په ټول پوره اسلامي واکمنې وه، په هغه کې دقران وسنت لاربښوونو په پوره او سمه توګه ظهور کړی و،چې ټول تفصیلات بیانول یې بحث اوږد دوي هو! بیشکه د راشده خلافت وروسته خلافتو نو یا نظامونوکې هغومره لوړو معیارونو، تقوا، جامع و مانع صلاحیتونو اوخصایصو شتون نه لاره.

بله نکته داده هغه دوستان چې داسلامي نظام لپاره د اسلامي واکمنۍ جوړيدو لپاره مبارزه کوي، پر هغوی باندې لازمي او ضروري ده چې د«الهي حاکميت علی منهاج النبوة» د ټولو تضمناتو سره جوړولو هوډ ولري زکه يوازي هغه واکمنې اسلامي بلل کيږي چې هغه له هر څه وړاندې پر ځان الهي حاکميت تسليم کړي، دخدای تعالی او د هغه د«رسول الله صلی الله علیه وسلم» شريعت د هيواد د ټولو قوانينود لومړي مأخذ په توګه منلو سره د"حدود الله" دننه اجرآتو کولو ته ژمنتيا ولري.

اوهم د واکمنۍ اصل غايت اوغرض به د خدای تعالی داحکامو اجراءاو دهغه د رضا سره سم دټولو بديو او ناروا کړنو استيصال او دنيکيو او خيريه چارو ارتقاء وي.

اسلامي واکمنې، هيڅکله " اعلی درجه" اقتدار ندی بلکې دخدای تعالی نيابت او د هغه لخوا امانت ده او د خلا فت لغوي معنی ده" نايب ــ ځای ناستی"

داسلامي واکمنۍ مقصد:

په ټوله کې داسلامي حاکميت هدف عا دلانه او صالحه ټولنه (امت) جوړول دي، چې د مسلمانو وګړو اخلاقي او روحاني ارتقاء او د هغوی دفطري صلا حيتونو د"نشو نمو" لپاره مُمِده او معاونه وګرځي، دعلماوو په اند: حقيقت کې داسلامي حاکميت جوړول « مقصود بالذات» ندي، بلکې د عادلانه ټولنې،صالح نظام قيام او استحکام او دهغه د تحفظ و بقا پشان "اعلی و ارفع" مقاصد و دحصول وسيله ده، په دې وجه داسلامي حاکميت ديني، اخلاقي او اجتماعي ضرورت هم دی، دکومو اجتماعي مسؤليتونه سرته رسول چې قرآن وسنت دامت په ذمه لازم ګرځولي دي، حاکميت د هغو دسرته رسولو مؤثره زريعه دی، نوپه دې توګه داسلامي حاکميت په اساسي مقاصدو، وظايفو او وجايبوکې داده چې په هيواد اوټولنه کې دشرعي احکامو اجراء اونفاذ ته به لومړيتوب ورکوي، دکومو په زريعه چې اسلامي امت دخپل وجود هدف ته رسيدای شي، دهمدې لپاره اسلام خپلو پيروانوته دروحاني او اخلاقي اصلاح دتکميل لپاره کوم اخلاقي چاپيريال برابرول غواړي، د هغه لپاره داسلامي حاکميت وجود ضروري وسيله دی.

اسلامي حاکميت دا مسؤليت هم لري چې دمسلمانانو خپلمنځي اتحاد اوتعاون کولو لپاره به اسانتياوې برابرې وې، څو اسلامي ټولنه(مسلمان ملت) د روحاني او اخلاقي پلوه ارتقاء ومومي او وګړي به يې دمساوات، عدل و انصاف داعين دحق او خير ملاتړي او دباطل و شر په خلاف مجاهدين وي يعنې داسلامي واکمنۍ جوړولو څخه غرض ديوې داسې ټولنه ارتقاء ده چې په سيب يې دزمکې له مخ نه دظلم و تعدی مخنيوي، دعدل و انصاف قيام اوداجتماعي تعليماتو رسولو ته لارې پرانيستل شي.

دامر بالمعروف او نهی عن المنکر قايمول داسلامي رياست دمشروعيت اساس دی او پرته يې داسلامي رياست په نوم حکومت جواز يا مشروعيت له لاسه ورکوي.

نوربيا

هغه سرښندنکی چې

اسلامي بیرغ یې لوېدوته پرېنښود

کوچی

داسلام دسپیڅلي دین پیروانو په هر قرن کې دخپل مبارک دین دټولو شعایرو نه په پوره مېړانې سره ساتنه کړې ده دتورو په ګوزارونو، سخنو بې وزلیو او هررنګه جنګي تکلیفونو کې دداسې قربانیو بې دریغه حیرانوکې غیرتي کیسې دخپلو صحابه کرامو رضوان الله اجمعین څخه راپاتې دي چې تراوسه یې چا بېلګه نه ده موندلې.

دمؤته په غزا کې په چابک اس سپور زلمي پخپل ښي لاس سپېڅلی محمدي بېرغ نیولی و، اس یې دتورو په ګوزارونو ، دجنګي لښکرو په هجوم کې قدم نشو مخکې کولای دلښکر ټول مجاهدین دبېرغ دلېدلو په وجه په پوره جوش اوجذبه جنګېدل.

ځکه محمدي بېرغ لا رپاند و، مجاهدینو ځان شته اوډاډمن احساساوه دجګړې توان یې ځان کې لید ځکه چې دبېرغ اوچتوالی په دې مانا و چې مونږ دضعف نه! دقوت په حال کې یو دښمن ځپی شو دبې شمېره رومي لښکرو په وړاندې خپلو اسلامي شعایرو نه دفاع کولای شو، ددې غزا په اس سپور اتل درومیانو له وېرې خپل محمدي بېرغ ته شاه نه کړه پرې یې نښود چې رومیان یې په غورځېدو خوشحال شي .

داچې داځوان مجاهد دخپل اسلامي بېرغ دساتلو کلک هوډ کړی و، نوددې پرځای چې خپل اس دمنډې لپاره تیار کړي، بلمقابل یې له اس نه په ښکته کېدو خپل اس په توره وواهه دمخکې تګ په تکل کې و ځان لپاره یې دمخکې تللو لار کتله اوخپل محمدي بېرغ یې اوچت ساتلی و.

دخپلې وینې په (نذرانی) سره تیار و چې بېرغ لوړ ورپوي دخپل اسلامي لښکروینه دبېرغ په اوچتوالي سره په جوش جذبه کې وساتي، خو داسلام دښمنانو دامجاهد په نظر کې نیولی و، هڅه یې وه بېرغ لوړ ساتونکی سرتېری ختم شي (ځکه پخوانو جنګونو کې به چې ترکله هم دکوم ټولي اولښکر بېراغ دجګړې په ډګر کې لوړ و نو هغو به په پوره ډاډ سره جګړه کوله ځکه چې دبېراغ په لېدلو یې دبریا احساس کاوه)

ددښمن یوتن د دغه باعزمته مجاهد په لاس ګوزار وکړ داسلامي بېرغ د غورځېدو هڅه روانه وه مجاهد دتورې په تېز ګوزار په ښي لاس ولګېد کفارو ته خپله هڅه بریالی ښکاره شوه، خو داسې ونشول دمجاهد لاس په ځمکه پرېوت ولې بېرغ په ځمکه نه! بلکې دمجاهد کېڼ لاس ته تللی وکېڼ لاس یې هم دبېرغ دفاع ته ځان تیار کړی و، مجاهد په چپ لاس اسلامي بېرغ رپاند ساته ددې پرځای چې دلاس کټ کېدو سره وروسته لاړشي همداسې مخکې روان و.

ددښمن توره په شجاع ځوان دبل ګوزارپه تمه وه، دتورې په ور رسېدو سره دمجاهد بل لاس هم کټ شو مېړني ځوان بیا هم دخپل بې ساري غیرت مظاهره وکړه بېرغ یې په خپله سینه پورې کلک ونیو دمبارک بدن نه یې وینه بهېدله خو ایماني جذبه یې لا هم ژوندۍ وه او په ایماني جذبې سره یې لادتورو مقابله کولای شوه، کفري دښمن ته یې دخپل دین سره دبې کچې مینې تصویر په ښه وضاحت سره ښود دخپل بدن اندامونه یې بېل بېل دجګړې په ډګر کې پرېښودل، خو اسلامي بېرغ ښکته نه! بلکې اوچت رپېده.

په وروستي ځل ددښمن زورور ګوزار داسلامي بېرغ په نره دفاع کونکی صحابي حضرت جعفر رضی الله تعالی عنه شهید کړ هوحضرت جعفر رضی الله عنه شهید شو، خودبې شمېره رومي لښکرو په منځ کې یې اسلامي بېرغ رپاند وساته .

قال الله تعالى:

مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا ﴿الأحزاب: ٢٣﴾.

د اسلام د مبارک دین له پیل سره سم د حق او باطل ترمینځ ستړې معرکې ترسره شوې، چې تر ننه لا هم روانې دي، چې تر دې مهاله په لکونو اتلانو د غیرت او میرانې شملې لوړې دي، د اعلاء کلمة الله بن يې په خپلو وینو خړوب او تازه ساتلی، د اسلام له حریم څخه يې په کلکه دفاع او ننګه کړې، د طاغوت دلې يې تیت،پرك، نیست او نابودې کړي، له خپل سر او مال څخه تیر شوي، خو کافر او مغرور غلیم يې نه ده پریښې چې خپل شوم هدف او موخې ته ورسیږي.

د دې اتلانو له جملې څخه یو هم شهید شیخ الحدیث مولوي نجم الدین "سالک" تقبله الله و، چې له خپل رب سره کړې وعده ریښتوني کړه!

نومورې د ممبر او دسنګر نه ستړې کیدونکی مبارز او منل شوی عالم او مجاهد و.

راځئ یوه شیبه د دغه میړني او نومیالي مجاهد په ژوند پیښو،کارنامو او شخصیتي ځانګړنو سره وغږیږو، او د یاد په تازه کولو يې د هجران تنده ماته کړو.

زوکړه:

شهید مولوي نجم الدین "سالک" تقبله الله د محترم میا عظم الدین بابا صاحب زوی او د مرحوم شیخ ګل شیر رحمه الله لمسی په قوم خواجه خیل چې په (۱۳۴۵)هـ ش کال چې له (۱۹٦۵) میلادي کال سره سمون خوري دکابل ولایت د سروبي ولسوالۍ اړوند تور غر د څپر په سیمه کې په یوه دیندار او مجاهد پاله کورنۍ کې دې فاني نړۍ ته سترګې وغړولې.

د شهید "سالک" تقبله الله پلار محترم میا عظم الدین صیب چې په دین مټین شخص، یو دیندار، تقوادار، نیک خویه او د خلورو طریقو خلیفه ده، نومورې د خپل زوی د اسلامي علومو د تر سره کولو لپاره پوره پام او توجه وکړه.

زده کړي او علمي ژوند يې:

دشوروي اشغال پرمهال له خپلې کورنۍ سره يو ځای خيبر پختونخوا ته هجرت وکړ، دغه مهال چې د هجرت او د جهاد دوره وه، نوموړی شهيد تازه زلمی و، د روسې يرغلګرو په خلاف پوره اخلاص او قوي عزم وسلوال جهاد ترسره کړ.

دشورويانو له ماتې سره سم شهيد مولوي نجم الدين "سالک" تقبله الله په ديني زده کړو پسې ملا وترله، او خپله هم نوموړي له علم او جهاد سره ډيره مينه درلوده.

د متوسطې،ثانيې او ثالثې درجې ديني زده کړې يې دپښتونخوا په مختلفو مدراسو کې تر وړې دورې پورې په پوره بريالیتوب سره سرته ورسولې.

تر دې چې د احاديثو د دورې لپاره يې د اسلامي علومو په لويه او مشهوره مدرسه په دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک کې په ممتاز سند سره د دستار فضليت ويار هم تر لاسه کړ.

له ديني زده کړو له فارغيدو سر سم نوموړی شهيد د تصوف په علم کې هم مخکې لاړ، او د څلورو طريقو مطلق خليفه وګرځيد.

نوموړي شهيد له دې وروسته د يو تکړه او وتلې استاذ په صفت په درس او تدريس پيل وکړ.

دهنګو په لختې بانډه د افغان مهاجرينو په کيمپ کې يې مدرسه جوړه ،او شاګرانو ته يې تدريس پيل او په خپل کلي کې يې سلګونه طالبان او شاګردان پيدا کړل.

نوموړي شهيد چې په اسلامي علومو کې يې په هر فن کې خورا ډير مهارت درلود، له دې څخه وروسته دسيمې اوسيدونکو د هنګو په مشهوره او لويه مدرسه مفتاح العلوم کې د درس او تدريس لپاره د يو تکړه او منل شوي استاذ په صفت مقرر کړ.

جهادي فعاليتونه يې:

کله چې په (۱۹۹۶) ميلادي کال په هيواد کې د طالبانو اسلامي او ملي تحريک د شر او فساد په وړاندې قيام وکړ،نو شهيد مولوي نجم الدين "سالک" تقبله الله هم له هغو لومړنيو مجاهدينو څخه و،چې د اسلامي او ملي تحريک ننګه يې وکړه او ورسره ملګری شو،نوموړي له دې وروسته خپل ټول شاګردان او مريدان داسلامي تحريک ليکو ته له ځان سره بوتلل .

نوموړي شهيد د کابل په سترو او تاريخي عملياتو کې له شهيد ملا بورجان تقبله الله سره څنګ په څنګ قرار درلود.

کله چې د ميزان په شپږمه د طالبانو په لاس کابل فتحه شو، نوموړي په دغه لويه فتحه کې پوره رول لاره، له دې څخه وروسته د اسلامي امارت له حکم سره سم دکابل ولايت د سرويې د ولسوالۍ لپاره د نظامي مشر ترڅنګ د امربالمعروف نهي عن المنکر د مشر په حيث هم مقرر شو.

دا چې نوموړی شهيد جيد عالم او د لوړو اخلاقو څښتن و، يو څه وخت بعد د اسلامي امارت له لورې په کابل کې د امربالمعروف نهي عن المنکر په نظامي لوی رياست کې وتاکل شو.

خپله وظيفه يې په پوره ايمانداری او اخلاص مخته ته بيوله.

د شهید سالک صیب تقبله الله د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال په امارت کې وتلي او غښتلی مشران هم شاګردان درلودل ، چې له جملې څخه یې یو هم ملا عبدالرازاق رحمه الله او بل د ملا اختر محمد عثماني رحمه الله په شان نومیالي کسان د نوموړی شاګردان وو ، ملا عبدالرازق چې د طالبانود واکمنۍ په مهال د کورنیو چارو وزیر، او ملا اختر محمد عثماني څوک چې د امارت د واکمنۍ په مهال د قندهار د قول اوردو اعلی قومندان و.

کله چې په کال(۱۹۹۸) میلادي کې په شمال کې د دوستمي ملیشو لخوا بغاوت او وحشت پیل شو. د اسلامي امارت نظامي زور او ځواک ټول د شمال خوا ته متوجه شو، له دې سره نوموړي شهید هم د اسلامي امارت له حکم سره سم د افغانستان د شمال په لور د یو اعلی او جګپوړی مشر په حیث له ګڼ شمیر غازیانو او مجاهدو طالبانو سره د خپلو ملګرو پشمول په دغه کاروان کې ملګری او روان شو.

د کاپیسا ولایت په نجراب او جبل سراج کې یې په لومړی خط کې قرار درلود، له نوموړی شهید سره په تشکیل کې زما تره الحاج مُلا عبدالرازق نقشبندي صاحب هم ملګری و، هغه وایي مونږ که څه هم د جنګ په لومړی کرښه کې و، ویره او خوف راته نه احساس کیده، دا ځکه چې مولوي صیب راته د استقامت او حوصلې خبرې کولې زمونږ حوصله یې لوړه ساتلې وه، زما تره زیاتوي مونږ به چې کوم سیمه او علاقه فتحه کوله د عامو خلکو د سر او مال ته به مو د مولوي صاحب په امر پوره پام او توجه کیدله، دی وایي چې مولوي صاحب به مونږ ته همیش دا خبره کوله، چې په تلاشي او عملیاتو کې له پوره پام او احتیاط څخه کار اخلئ، نوموړی شهید د هغو مخالفینو له مالونو، جایدانو سره پوره پام، احتیاط او ساتنه کوله چې له طالبانو سره په خونړیو جنګونو کې ښکیل وو.

لنډه داچې نوموړي د طالبانو دااسلامي امارت د پینځه کلنې واکمنۍ په مهال خپل جهادي کردار په ډیر ښه شان سره ادا کړ.

د صلیبي یرغل په وړاندې:

کله چې په (۲۰۰۱) میلادي کال امریکه او متحدینو یې په افغانستان ستر تیری تر سره کړ، د اسلامي امارت له بشپړې عقب نشینۍ وروسته خپل کلي کور ته راستون شو، څه موده وروسته د

اسلامي امارت د مجاهدينو صفونه او ليکې بيا له سره منظمې شوې او نوی جهادي بهير يې پيل کړ.

شهيد مولوي نجم الدين "سالک" تقبله الله لکه چې د طالبانو په اسلامي او ملي تحريک کې له سابقينو او اولينو څخه و.

همداسې د اشغال په وړاندې له لومړيو شپيو يې خپل محدود ملګري (دسروبي په ولسوالۍ) کې بيا منظم او پر دښمن يې غلچکي بريدونه پيل کړل، چې لږ موده وروسته په زياتره سيمو لکه څپر، کُولاله، سوروک، تيسنکی او د جګدلي په سيمه کې مجاهدينو خپل شتون ډاګيز کړ او پردښمن يې دارام خوبونه وتښتول او په سيمه کې د مجاهدينو لخوا په دوښمن د نوموړي شهيد د هيبتي نوم او کارنامو په وجه سخت فشار او روب پروت و.

تر زندانه:

دا چې نوموړی اتل د دښمن تر سخت څار او تعقيب لاندې و، په (۲۰۱۲)ميلادي کال په (٦) مياشت کې له دوه تنو مجاهدينو سره دپکتيا ولايت په ځاځي اريوب ولسوالۍ سپينې شګې په سيمه کې د قوي جاسوسۍ په مټ د يو کمين په ترڅ کې هغه مهال ونيول شول ، چې کله له سنګر څخه راستون او خپل کور ته روان وو.

له دې ځای څخه وروسته نوموړی د ګرديز ملي امنيت وحشي صفته عسکرو او کار کوونکو ته وسپارل شو، هغوي ته يې د زندان او د تحقيق په مهال په لوړ مرال وويل چې طالب يم او د امريکايانو څخه د خپل وطن د خلاصون لپاره جهاد کوم او وژنم يې!

له دې څخه وروسته نوموړی کابل ته انتقال او ملي امنيت ته وسپارل شو،د هغوی له ډول،ډول وحشت، ظلمونو او شکنجو سره مخ شو، دا هر څه يې په ځان قبول کړل خو له خپل دريځ څخه تير نه شو، له دې څخه وروسته نوموړی د پل چرخي وحشي زندان ته انتقال شو، نوموړی شهيد د زندان په موده کې دننه په درس او تدريس پيل وکړ، ګڼ تعدا کې شاګردانو ته دينې روزونه او ښونه ورکوله.

نوموړی ستر غازی د اسلامي امارت او عامو مجاهدينو او مسلمانانو په هلو ځلو او په بې دريغه مالي تاوان په (۲۰۱۳)ميلادي کال کې په(۸) مياشت کې له زندان څخه ازاد شو .

شهادت :

دا چې نوموړ شهيد له زندان څخه دمخه هم مريض و، زندان ته په تللو سره د نوموړی د علاج د نه کيدو په صورت کې يې مريضي نوره هم سيوا شوه او په ورته وخت کې په نوموړی ظلم، وحشت او شکنجې هم تر سره کيدلې، نو نوموړی يو کال په زندان کې تير کړ، د زندان مودې ډير کمزوری او د مرګ تر پولې رسولی وو.

نوموړی په کور کې يو څه وخت بعد سخت ناروغ شو،د اسلامي امارت د صحت کميسيون لخوا يې پوره علاج او تداوي کيدله، خو د نوموړي ناروغي مخ په زياتېدو وه،چې بلاخره يې په (۲۰۱۴) ميلادي کال دجنوري په لومړۍ نيټه د شهادت لوړ مقام تر لاسه او روح يې خپل حقيقي مالک ته وسپاره.

اناالله وانا اليه راجعون.

روح دې ښاد او يادونه دې تل تر تله پاتې وي.

د لندن او کرملین مانۍ هم کوم اسامه نړولې وې چې په موږ يې يرغلونه ترسره کړل؟!

زمونږ د اولس اکثريت خلک او ډيری افغانان په دې عقيده دي، که چيرې په هيواد کې د طالبانو اسلامي او ملي تحريک نه وای رامنځ ته شوی امريکه به دلته ولې راتله، او زيات شمير خو لا په دې نظريه دي، چې که اسامه يې ورسپارلی وای، امريکه به يرغل نه ترسره کاوه.

زه دغو کسانو ته دا وايم؛ چې چنګيز، ګورګين، انګريز او شوروي اتحاد ته موږ کوم زيان رسولی و، چې پر موږ يې تجاوز او يرغلونه تر سره کړل؟

او دلته يې په ملينونو افغانان ووژل، آيا د دوی په مانيو هم کوم اسامه يا کوم افغان حمله کړې وه؟ چې دلته يې داسې وحشتونه او ظلمونه وکړل چې تاريخ ورځخه شرميږي.

خبره د نيويارک د برجونو او اسامه نه ده، خبره دلته صرف د اسلام، ايمان او افغانستان ده، افغانان په دين مين خلک دي، هغوی تل په خپل هيواد کې د يو خپلواکه اسلامي نظام او د خلافت جوړولو هڅې کړې، خو په هر دور کې کفارو د چل او فريب له لارې دلته يو خپلواکه اسلامي او ملي نظام نړولی او افغانستان يې اشغال کړی، هغه څوک دا خبره کوي، چې هغوی له خپل تاريخ، ملي ارزښتونو او د افغانستان له جعرافيايي جوړښت څخه نا خبره دي، دوی د افغانانو د ميرانې، ننګونو او د غيرتونو د تاريخ بابونه دقيق نه دي لوستلي.

او نه د نړيوالو له يې رحمه يرغلونو خبر دي،دوی بايد د افغانستان تاريخ په دقيق ډول وګوري.

افغانستان چې شمال ته يې تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، ختيځ او جنوب ته يې پاکستان، لوېديځ ته يې ايران او شمال ختيځ ته يې د چين هيواد پروت دی.

له همدې املې خو افغانستان د آسيا زړه بلل کيږي؛او همدا شان افغانستان د اسيايي هيوادونو لپاره د بام حيثيت لري، له دې ځای څخه چين، روسيه، ايران، پاکستان او نور خواوشا هيوادونه ښه څارل کيږي.

افغانستان په تيرو وختونو کې د وړښمو د تجارت يوه لويه لاره وه،له همدې املې د نړۍ هر زبر ځواک غوښتل چې دا ځلور لارې ونيسي—او د وړښمو کاروانونه لوټ کړي.

بل د افغانستان غرونه او هوارې لويې زيرمې او ذخيرې لري، هر اشغالګر يې د نيولو هڅې کړي، ترڅو خپل اقتصاد وربانده پياوړی کړي، او له خپل سيال سره سيالي پرې وکړي خو برياليې شوي نه دي او دا ارمان يې ګور ته وړی.

دلته هر آمپراتور خپل بخت ازمویلی!

کله دلته د چنګیز په نوم یرغلګرو حملې کړي، او کله هم انګریزانو او د شوروي په نوم یرغلګرو دلته وحشتونه ترسره کړي،چې اوس دا دی د امریکه تر وحشي یرغل لاندې دی.

کله چې مقدوني سکندر ټوله نړۍ اشغالوي! خو چې په افغانستان خپل د غرور قدم ږدي! دلته یې هاډونه ماتیږي.

چنګیز په ټوله نړۍ کې وحشتونه ترسره کړل،د مسلمانانو واکمنۍ یې ونړولې، هیوادونه یې اشغال کړل، خو کله چې د افغانستان ته داشغال په اراده خپل لښکر راولي!

د مقدوني سکندر قوت ته په پام سره ګوري، چې هغه دلته ناکام شوي، خپل لښکر یو په دوه چنده کوي.

او په افغانستان یرغل تر سره کوي، په داسې حال کې چې افغانانو ورته هیڅ زیان نه و رسولی!

افغانان یې په وارندې په میرانه دریږي،او دلته دچنګیز ورمیږ ورماتوي،او ټوله نړۍ یې له شره خلاصیږي.

د ګورګین له لښکرو چې ګرده نړۍ ترینه په ویره کې وه، په افغانستان یې برید ترسره کړ، ګورګین خپل خان د لوی قندهار حاکم اعلانوي، افغانان یې اشغال او وحشت نه شي زغملی، او په وړاندې یې د جنګ ډګر ته راوځي، ګورګین هم دلته خپل سر بایلي،او لښکر یې تس نس کیږي.

له دې وروسته انګریزان په ګرده نړۍ خپل واک ټینګوي،په افغانستان بې له جرمه درې ستر وحشي یرغلونه ترسره کوي، اوپه ورته وخت کې انګریزان د مقدوني سکندر، او د چنګیز لښکرو ته پام سره خپل لښکر لس چنده کوي، چې د افغانانو په وړاندې ماتې ونه خوري.

خو افغانستان ورته اور غوړ ځوونکی غر ثابت شو، او د عروج لمر یې د قطبي خراسان د زوال پر اُفق ولوید.

له دې وروسته روس د نړۍ آمپراتور ګرځي،سیمې او ملکونه لاندې کوي،اوبلا اخره په افغانستان یې قانونه او یې رحمه تجاوز تر سره کوي،په عین حال کې روسان د انګریزانو نظامي قوت ته په پام سره خپل لښکر او نور نظامي تجهیزات له انګریزانو څو چنده زیاتوي،او د افغانستان پر امپراتور کشه اقلیم رانازلیږي، په داسې حال کې چې هیڅ یو اسامه یا کوم افغان د کرملین مانۍ نه ده نرولې!

افغان مسلمان اولس په داسې حال کې د شوروي له یرغل سره مخ شو، چې لا یې د انګریزانو له یرغلونو د ارام ساه نه وه اخیستې. او په یې د فاع او مظلومو افغانانو یې ستر تیری تر سره کړ.

خو د دې خاورې پر خپلواکۍ مئین ولس یې د زریدارو ټانګونو مخ ته په تشو لاسونو راووتل، او په کلک عزم یې د دې نړۍ خور زبرځواک غاښونه ور مات کړل، د یونیم میلون شهیدانو په ورکولو سره یې کفري یرغلګر مات او خپل استقلال یې خوندي کړ! او جماهیر شوروي اتحاد یې په روسیه بدل کړ.

له دې وروسته په نړۍ کې امریکه خپل فرعونیت اعلانوي،ځان د نړۍ آمپراتور معرفي کوي، په جاپان اتومي بریدونه تر سره کوي او د یو شمیر نور ملکونو په ځیر یې اشغالوي؛ ټوله اسلامي او غیر اسلامي نړۍ ورته له ویرې سلامي کوي.

او بلاخره په افغانستان د یولسم سپتمبر د پیښو په پلمه یې قانونه یرغل راوړي، په عین حال کې امریکه د

شوروي اتحاد،او انګريزانو ماتې ته په پام سره په افغانستان کې ګوري!

دا ځل دا امپراتور د ځان د قوت لپاره لپاره تولې نړۍ په افغانستان ديرغل لپاره چمتو کوي!

افغانان په داسې مهال له صليبي يرغل سره مخ شول، چې لا يې د شوروي له يرغل او کړاونو د ارام ساه نه وه اخيستې.

خو دا ځل په افغانستان د تاريخ تر تولو ستر يرغل ترسره شو، د نړۍ(۴۸) ملکونو چې په سر کې يې امريکه وه په افغانستان هجوم راوړ.

زمونږ اسلامي نظام يې رنګ کړ، زمونږ خپلواکي يې سلب او زمونږ د ځمکې او د فضا اختيارات يې په خپل لاس کې واخيستل.

د دې عصر ګوداګيانو اشرف غني، حامد کرزي او نورو کټ مټ د شاه شجاع او ببرک کارمل په څير د اشغالګرو ارخ ونيوه!

خو د غيرتي اولس زړورو بچيانو مجاهدو طالبانو، علمأکرامو او نورو عامو مجاهدينو د خپلو مجاهدو اسلفو په شان د آمير لمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالى په مشرى د کافرو اشغالګرو په ضد جهاد بيرغ پورته کړ!

او په يرغلګرو يې دهيواد په لر او بر کې فيدائي،تعرضي،چريکي او ځپونکي بريدونه پيل کړل.

خپل سرونه يې د في سبيل الله په لار کې قرباني کړل،او دا دي نولس کاله په خپله جهادي مبارزه د فولاد په شان محکم پاتې شول.

او بلا اخره دغه يرغلګر هم د افغانانو د باعزمه جهاد په وراندې سلامي او سرټيټي شول!

دوخت ستر فرعون دغرور له تخته راګوزار شو او اوس يې جنګ بندى زارى شروع کړي.

دغې مغرورې امريکه هم د انګريز او شوروي په شان د افغانانو اسقلال په رسميت وپيژانده!

او د (۱۳۹۸) هجري شمسي کال د کب په لسمې يې د قطر هيواد په دوحه کې دسلګونو هيوادونو په حضور کې خپله ماتې ومنله، او د تولو عسکرو د ويستلو فيصله يې وکړه.

که مورِ اسامه ورسپارلی هم وای

امريکه به دا يرغل تر سره کاوه!

خبره د اسامه او نيويارک د برجونو نه ده،

هغوى ته زمونږ اسلامي امارت دمنلو ور نه و!

هو يې له شکه دوى دلته په يرغل راتله همداسې مناسب وخت کې، دوى د نيويارک له حملو استفاده وکړه!

صليبيان په اسلامي دولتو کې د حکومتونو ضد نه دي،بلکې په ماهيت کې د اسلامي اصولو ضد دي.

دطالبانو اسلامي امارت داسې امارت و چې د خلافت بڼه يې غوره کړې وه.

نو دوى هيڅکله هم دمسلمانانو دا ډول اسلامي نظام نه شي زغملى.

دوى دا يرغل اخر هم تر سره کاوه، د نيورک له حملو دوه کاله مخکې ولې امريکه په طالبانو نړيوال بنديزونه ولګول.

امريکه به تر څو مورِ او ګردې اسلامي نړۍ ته د کبر او غرور خبرې کولې!

خو بڼه شوه چې امريکه دلته راغله او غرور يې مات شو.....

پای



جنګي جنايتونه (سپتمبر)

سید سعید

د ۲۰۲۰ز، کال د سپتمبر د میاشتې په لومړۍ نیټه د فاریاب ولایت د جمعه بازار ولسوالۍ د کوسه قلعه او نوده په سیمو کې حکومتي الوتکو بمبار کړی، په دغه بمبار کې دوه مسجدونه او د ولسي وګړو کورونه ورانوي دي.

د سپتمبر په لومړۍ نیټه حکومتي عسکرو د بلخ ولایت د خاص بلخ ولسوالۍ د علم خېلو ځلورلارې مسجد په بلډوزرونو شهید کړی دی.

د سپتمبر په لومړۍ نیټه دتخار ولایت د نمک اب ولسوالۍ په مربوطاتو داخلي عسکرو یوه میرمن شهیده کړې ده .

د سپتمبر په لومړۍ نیټه دبادغیس ولایت د سنګ آتش ولسوالۍ دلودینانو کلي کې داخلي عسکرو یوه میرمن شهید کړې ده .

د سپتمبر په ۴مه د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالۍ د مومن خیلو په کلي کې د حکومتي عسکرو د هاوانونو د ویشتلو له امله یوه ماشومه شهیده شوې او درې تنه ژوبل شوي دي.

د سپتمبر په ۵مه د ننګرهار ولایت د شیرزادو ولسوالۍ د کدیخیلو ملایانو قلعه سیمه کې د حکومتي عسکرو د هاوان په ډزو کې پنځه تنه ماشومان شهیدان شوي او دوې نښځې ژوبلې شوې دي.

د سپتمبر په ۵مه دفاریاب ولایت د المار ولسوالۍ په بخاري قلعه سیمه کې حکومتي الوتکو په جامع مسجد او ګنو کورونو باندې بمبار کړی، په دغه بمبار کې دوې نښځې او لس تنه ماشومان ژوبل شوی، مسجد شهید شوی، د ملکي خلکو شپږ کورونه او یو دارالحفاظ ورانوي دي.

د سپتمبر په ٦مه د هرات ولایت د کشک کهنې ولسوالۍ د زاړه بازار په سیمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یو ماشوم شهید شوی او یوه میرمن ټپي شوې ده.

د سپتمبر په ۷مه د هلمندولایت دګرشک ولسوالۍ دسیدانو په سیمه کې د حکومتي خواکونو د توپچي په ډزو کې یو ماشوم شهید او بل ژوبل شوی دی.

د سپتمبر په ۷مه د کندز ولایت د دشت ارچي ولسوالۍ د کمال په کلي باندې داخلي عسکرو هاوانونه توغولي، چې له امله یې د یوې نښځې په ګډون څلور تنه ولسي وګړي شهیدن شوي دي.

د سپتمبر په ۹مه د کندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ دشاجوی په سیمه کي داخلي عسکرو یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

د سپتمبر په ۱۲مه د جوزجان ولایت د منګجیک ولسوالۍ له مرکز څخه په توغول شوي میزایل یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

د سپتمبر په ۱۲مه د بغلان ولایت د نهرین ولسوالۍ د ارباب خیلو او د دهمرده په سیمو کې حکومتي الوتکو د ملکي وګړو د استوګنې پر سیمو بمبار کړی، په دغه بمبار کې یوولس تنه ولسي وګړي ټپیان شوي او خلکو ته پراخ مالي تاوان رسیدلی دی.

د سپتمبر په ۱۲مه د لوګر ولایت مرکز اړوند پیاروخیلو کلي کې د یرغلګرو په ډرون حمله کې یو مسجد زیانمن شوی او دوه ولسي وګړي شهیدان شوي او اته تنه نور ژوبل شوي دي.

د سپتمبر په ۱۳مه د غور ولایت د دولتیار ولسوالۍ د ګرم آبک په سیمه کې د حکومتي خواکونو په بمبار کې یو سپین ږیری هیوادوال شهید شوی دی.

د سپتمبر په ۱۳مه د ننګرهار ولایت د شیرزادو ولسوالۍ په مرکځیلو سیمه کې د حکومتي خواکونو په بمبار کې درې تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د سپتمبر په ۱۳مه د بغلان ولایت د تاله برفک ولسوالۍ په دشت لجام سیمه کې دحکومت په هوایي برید کې یو مسجد او څو کورونه په نښه شوي،چې له امله یې یو سړی شهید شوی او د نښځو او ماشومانو په ګډون ګڼ ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

د سپتمبر په ۱۳مه د بغلان ولایت د نهرین ولسوالۍ په حافظ بچه سیمه کې د حکومت په بمبار کې یو کور تخریب شوی او دوه تنه ملکي وګړي پکې شهیدان شوي دي.

د سپتمبر په ۱۳مه د غزني ولایت مرکز اړوند قلعه غچ کلي کې د حکومتي خواکونو له خوا پر یو کور د بمبار په ترڅ کې دوې ماشومانې شهیدانې شوې او دوې ژوبلې شوې دي.

د سپتمبر په ۱۵مه د بغلان ولایت د نهرین ولسوالۍ د تره خیلو کلي کې حکومتي خواکونو د استوګنې پرسیمه بمبار کړی، چې له کبله یې یو مسجداو پنځه کورونه زیانمن شوي او خلکو ته مالي زیانونه او ښتي دي.

د سپتمبر په ۱۶مه د زابل ولایت مرکز قلات اړوند د خواخوکو پر کلي حکوتي الوتکو بمبار کړی، په دغه بمبار کې یو کور تخریب شوی او یو سپین ږیری کلیوال شهید شوی دی.

د سپتمبر په ۱۷مه د سمنګان ولایت په خرم ساراغ کې داخلي عسکرو د بابه قمبر د مدرسې دوه تنه زده کوونکي شهیدان کړي دي.

د سپتمبر په ۱۷مه د بغلان ولایت د برکې ولسوالۍ په چپه سیمه کې داخلي عسکرو د ولسي خلکو پر کورونو هاوانونه پیر کړي، چې له امله یې درې تنه ملکي وګړي شهیدان شوي او اته تنه ژوبل شوي دي.

د سپتمبر په ۱۸مه د بلخ ولایت د چمتال ولسوالۍ په نوشهرعلي زو سیمه کې د حکومت په هوایې برید کې دوه تنه ملکي وګړي ژوبل شوي او خلکو ته مالي تاوان رسیدلی دی.

د سپتمبر په ۱۹مه د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ په قاري اباد سیمه کې د حکومتي خواکونو په توپچي بریدونو کې څلور میرمنې شهیدانې او ټپیانې شوې دي.

د سپتمبر په ۱۹مه د پکتیا ولایت د ګردې څېړۍ ولسوالۍ سواکې کنډو سیمه د حکومتي الوتکو په بمار کې یو ملکي وګړی شهید شوی او دوه تنه ټپیان شوي دي.

د سپتمبر په ۱۹مه دهرات ولایت د پښتون زرغون ولسوالۍ د زمان اباد په سیمه کې حکومتي الوتکو د عامو خلکو پر کورونو بمبار کړی، په دغه بمبار کې یوه میرمن شیهده شوې او خلکو ته زیات مالي زیان او ښتی دی.

د سپتمبر په ۱۹مه د سمنګان ولایت د دره صوف ولسوالۍ په مربوطاتو کې حکومتي الوتکو د استوګنې سیمې بمبار کړې، چې له امله یې درې تنه ملکي وګړي شهیدان شوي، یو شمېر دوکانونه سوځیدلي او خلکو ته پراخ مالي تاوانونه اوښتي دي.

د سپتمبر په ۱۹مه د کندز ولایت د خان آباد ولسوالۍ په نیک پای سید رمضان کلي کې حکومتي خواکونو د عامو خلکو پر کورونو بمبار کړی، دعینې شاهدانو په وینا په دغه بمبار کې ۲۳ تنه ولسي هیوادوال شهیدان شوي او اوولس تنه ټپیان شوي دي، همداراز په دغه بمبا رکې ګڼ کورونه هم ویجاړ او زیانمن شوي دي.

د سپتمبر په ۱۹مه دهرات ولایت دګلران ولسوالۍ د خواجه بزرګ په سیمه کې د داخلي عسکرو په ډزو کې یو ماشوم شهید شوی دی.

د سپتمبر په ۲۱مه د بدخشان ولایت د راغستان ولسوالۍ په کندریم سیمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید شوی، ګڼ ځاروي له لمنځه تللي او خلکو ته مالي تاوان رسیدلی دی.

د سپتمبر په ۲۱مه د غزني ولایت د دهیک ولسوالۍ په علي خیلو کلي کې د حکومتي خواکونو په بمبار کې یو مسجد زیانمن شوی دی.

د سپتمبر په ۲۳مه د بلخ ولایت د چهاربولک ولسوالۍ په هزاره قشلاق سیمه کې د حکومتي خواکونو په هوایي برید کې مور او دوه ماشومان یې شهیدان شوي دي.

د سپتمبر په ۲۶مه د بغلان ولایت ددهنه غوري ولسوالۍ په ګاویانو کلي کې د حکومتي عسکرو د هاوان په ډزو کې دوې ښځې شهیدانې شوې او درې ماشومان ژوبل شوي دي.

د سپتمبر په ۲۷مه د غزني ولایت داب بند ولسوالۍ په ړنده خیلو سیمه کې د داخلي عسکرو په ډزو کې دوته تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د سپتمبر په ۲۷مه دهرات ولایت د شیندنډ ولسوالۍ د شوز کمپنۍ په سیمه کې د حکومتي خواکونو دهاوان په ډزو کې څلور ښځې شهیدانې شوې او دوه ماشومان ژوبل شوي دي.

د سپتمبر په ۲۷مه د بلخ ولایت د خاص بلخ ولسوالۍ د چهارسنګ د سمرقندیانو سیمه کې د داخلي عسکرو د توپچي په ډزو کې یوه میرمن شهیده شوې ده.

د سپتمبر په ۲۹مه د لغمان ولایت د علینګار ولسوالۍ په الوخیلو سیمه کې حکومتي عسکرو داستوګنې پر سیمو توپچي بریدونه کړي، چې له امله یې یو خای پنځه تنه ولسي وګړي ژوبل شوي او بل خای بیا یوه میرمن او دوه ماشومان یې شهیدان شوي او دوه ماشومان ټپیان شوي دي.

د سپتمبر په ۲۹مه د بلخ ولایت د کشندې ولسوالۍ په کشندې بالا سیمه کې حکومتي الوتکو دولسي- وګړو پرکورونو بمبا رکړی، په دغه بمبار کې دوه ولسي- وګړي شهیدان شوي او یو تن ژوبل شوی، همدا راز پدې بمبار کې درې دوکانونه سوځیدلي او خلکو ته پراخ مالي تاوان اوښتی دی.

د سپتمبر په ۲۹مه د بامیان ولایت په باغک سیمه کې حکومتي عسکرو د عامو خلکو له کورونو او دوکانونو قیمتي توکي وړي او بیا یې همدا دوکانونه او کورونه سوځولي دي.

مأخذونه :[بي بي سي راډیو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،ټول افغان ویبپاڼه ،لراوبر= ،نن ټکی اسیا=او بینوا]

د مظلوم ولس
دعا په قبلېدو دي

اکرام الدین مفتون

د مظلوم ولس دعا په قبلېدو دي
د هېواد روان حالات په بدلېدو دي

د خوښۍ د عدل لمر په راختو دی
د وحشت تورې تیارې په ورکېدو دي
د مظلومو میندو سوي اسویلي به
د سهار د پسرلي نری نسیم شي
د شهید غوتې غوتې وینې به ګل کړي
پرې شبنم به ترمې اوښکې د یتیم شي
د جنګونو بدرنګي به کډه یوسي
په خندا خندا به سپینه سوله راشي
د باروتو زهرجن لوګي به ورک شي
ګران هېواد ته به رنګینه سوله راشي
د دې ناوې به نکریزې عادت نه وي
دواړه لاس به یې د دښمن په وینو رنګ وي
د بلدي یار زولنې به یې بنګړي وي
دا سنګر سنګر هېواد به یې پالنګ وي
د حریت ناوې به رنګ په رنګ سینګار شي
هر ارمان به یې پوره د مئین زړه شي
پس له دې به د تکبیر مستو نعرو کې
یو ملنګ غوندې طالب ته ور واده شي
ټول خواره واره وګړي به راټول شي

طالب جانه
درته غږ په ملا خم دی

احمد ګل ریان

سر را پورته کړه ملنګه سپېده دم دی
د یو نوي ژوند دعا ته ولس تم دی

ها ساده زلمکی وینې چې رادرومي؟
دا اُمید هم د عرب هم د عجم دی

نن مو زړونه د بوډی تال کې زنګېږي
د اسمان ستر ګو کې پند د خوښۍ نم دی

شمله وره ! چې دې نوم ورباندې لیکم
ګواکې لاس کې مې د سرو زرو قلم دی

د نښترو لاس یې ایښی پر سینه دی
طالب جانه درته غږ په ملا خم دی

خاکساري دې مثالونو کې یاد پرې
او غیرت دې چا ویل چې له چا کم دی؟

بدخواهان دې چې سلام ته هوسېږي
بس چې غم دی، د ریان همدغه غم دی

ازادي راځي وطن ته!

منیب احساس

راځي وطن ته آزادي دا مو ایمان دی
رب را کړې خوشخبري دا مو ایمان دی

یو ځل بیا به مو هیواد ته سکون راشې
شې خپره به خوشبویي دا مو ایمان دی

هیوادوال به د یو بل غاړه غاړی شې
په مینه مینه ورورولي دا مو ایمان دی

تعصب او د نفرت رېښې به غوڅې وې نور
شې محبت به دایمي دا مو ایمان دی

د وطن د هر وګړې ارمانونه به پوره شې
وې به جوړه آرامي دا مو ایمان دی

د موسکا وو د سپرلیو وخت به راشې
ښامار لاړ به وې غربي دا مو ایمان دی

په نڅاؤ به غاټول سنبل ریحان او ګلابونه
خزان مات، وې به سپرلي دا مو ایمان دی

د زړه ارمان به د منیب احساس پوره وي
لمانځو به خوښي دا مو ایمان دی

لا ژوندی لکه شېرین افغانستان یم

جانان خدرخېل

تنها ناست یم د وطن د غرهٔ په سر کې
تېرومه د اختر شپې په سنګر کې
زما غوښې بیا په وړو سپیو وخورئ
که مړ شوی وم یارانو په بستر کې
قربانۍ د شهیدانو عبث مکړې
خدایه لاس مې لپه کړي ستا په در کې
آزادۍ لیلاګۍ ګوره ستا لپاره
سر او مال مې اچولي په خطر کې
د دښمن ګوزار به هیڅ اثر ونکړي
زهٔ نیولی یم ملکو په وزر کې
لا ژوندی لکه شېرین افغانستان یم
د زرګونو دښمنانو په اشر کې
خنداګانې دي، پستې پستې کیسې دي
را لوېدلی یم د حورو په ګودر کې
زندګي څهٔ ده خو تک سور انتظار دی
یا سترګک دی په یو تک ژړ مازدیګر کې
ښهٔ سرلوړی ژوند مې وکړ "خدرخېله"
او سر لوړی به راځمه په محشر کې

هلمنده!

خوګ دی، را درومي ستا دمستو څپو شور، هلمنده!
بیا دې بل کړی دی د دین پر دښمن اور، هلمنده!
مسته غزا، مست غورځنګونه دې خاموشه مشه،
دا سوبې -سوبې او بریاوې لور پر لور، هلمنده!
څپاند بریدونه دې وهي یاغي، باغي سرونه
بیا شوې مؤمنو هېوادوالو ته ټکور، هلمنده!
د وخت محکومو غلامانو او بل واکو لره
څرګند کړ ښهٔ پر نره تا دایمان زور، هلمنده!
تا دښکېلاک دپاتې شونو ریښې ؤ، وېستلې
لا دې څپاند او ګرندی کړه، قوت نور، هلمنده!
هسکه شمله دې تیټه مشه، د ویاړوو ټاټوبې!
ای د منصور درمان د دواړو سترګو تور، هلمنده!

چې په **جـهاد** خپلواکي ترلاسه شي بیا به **پرمختګ** او **هـوسایي** په برخه کیږي

MORCHAL
Islamic, Jihady, Educational
and Cultural Monthly Journal